الصرف ام العلوم والنحو ابوها

القول المنیر

پښتو

فی شرح

نحو میر

تالیف

شیخ الصرف والنحو علامہ شریف گل قادری رضوی مدظلہ العالی

مہتمم جامعہ فیضان مصطفیٰ صلی اللہ علیہ وسلم چیل شیخانو کلے لوند خوړ مردان

المکتبۃ النظامیۃ

مسجد حضرت ابوایوب انصاری گھنٹہ گھر پشاور

0300-5893316
0335-8317496

CamScanner

الصرف أم العلوم والنحو أبوها

القول المنير

في شرح

نحو مير

تالیف

شیخ الصرف والنحو علامہ شریف گل قادری رضوی مدظلہ العالی

مہتمم جامعہ فیضان مصطفی ﷺ چیل شیخانو کلے لوند خوڑ مردان

المكتبة النظامية

مسجد حضرت ابو ایوب انصاری رضی اللہ عنہ گنڈہ گھر پشاور

0300-5893316 | 0335-8317496

انتساب

زۀ د دے شرحے نسبت پیرِ طریقت، رهبر شریعت واقف اسرار حقیقت، قدوة السالکین حضرت شیخ گل صاحب مبارك دامت فیوضه وبرکاته الی یوم القیامه او خپل استاذ محترم شیخ القرآن والحدیث مفتی اعظم حضرت علامه مولانا ابوالفضل محمد فضلِ سبحان صاحب القادری دامت فیوضه وبرکاته الی یوم القیامه.

او امام الصرف والنحو حضرت علامه مولانا خادم حسین صاحب رضوی دامت فیوضهٗ وبرکاته الی یوم القیامه ته کوم. چه دَ دوی مبارکو په نظرِ کرم او فیضان سره خدائے پاك ما لره د دے کتاب دَ وضاحت کولو توفیق راکړو.

زۀ دَ خدائے پاك نه اُمید لرم چه د دے صاحبانو په برکت او طفیل سره زما دا کوشش او سعی مقبول اوګرځوی. او خدائے پاك دے دا شرحه دَ طلباؤ د پاره رهبر کامل ثابت کړی ځکه چه دا په حقیقت کښې دَ عربی ژبے اهم خدمت دے. اُمید دے چه قدردان یعنی علم حاصلونکی طلباء دا علمی تحفهٔ دَ ځان د پاره مفیده اوګنړی او د دے نه پوره پوره فائده حاصله کړی.

(شریف گل قادری)

نحو میر

نحو:۔ دَ نحو لغوی معنیٰ قصد او اراده کول. صیغه واحد مصدر ثلاثی مجرد ناقص واوی از باب نَصَرَ، یَنْصُرُ.

میر:۔ ئے دَ مصنفؒ دَ لقب نه راغستلے دے. دَ مصنفؒ لقب میرسید سند شریف وو. او خپل نوم ئے علی ابن محمد ابن علی الجرجانیؒ وو. دَ هر علم شروع کیدونه مخکښې درے خبرے پیژندل ضروری دی.

(۱) تعریف دَ علم (۲) موضوع دَ علم (۳) غرض دَ علم.

تعریف دَ علم نحو:۔ اَلنَّحْوُ عِلْمٌ بِاُصُوْلٍ یُعْرَفُ بِهَا اَحْوَالُ اَوَاخِرِ الْکَلِمِ الثَّلٰثِ مِنْ حَیْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ.

موضوع دَ علم نحو:۔ اَلْکَلِمَةُ وَالْکَلَامُ.

غرض دَ علم نحو:۔ صِیَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَآءِ اللَّفْظِیِّ فِیْ کَلَامِ العرب.

مُوجد دَ علم نحو:۔ حضرت علی رضی اللہ عنہ وعند البعض حضرت ابو الاسود دئلی رضی اللہ عنہ.

مشهور ائمه دَ علم نحو:۔ امام سیبویه، امام فرّاء، امام مبرد.

فضیلت دَ علم نحو:۔ وَالنَّحْوُ اَبُوْهَا.

لفظ:۔ لغوی معنیٰ غُرځول لکه عرب وائی چه "اَکَلْتُ التَّمْرَةَ وَلَفَظْتُ

"النَّوَاۃُ" او په اصطلاح کښې "مَايَتَلَفَّظُ بِهِ الْاِنْسَانُ" ته وائی.

لفظ:- صيغه واحد مصدر ثلاثی مجرد صحیح از باب ضَرَبَ يَضْرِبُ.

لفظ بيا په دوه قسمه دے: (۱) لفظ مستعمل، (۲) لفظ مهمل.

لفظِ مستعمل:- هغه لفظ دے چه دَ هغے څه معنی وی لکه روټی او چائے.

لفظِ مهمل:- هغه لفظ دے چه دَ هغے څه معنیٰ نه وی لکه موتے او مَے وغیره.

لفظ مستعمل په کلام دَ عربو کښې په دوه قسمه دے: (۱) مفرد، (۲) مرکب.

مفرد:- هغه لفظ دې چه یو وی او په یوه معنیٰ باندې دلالت کوی دے ته کلمه هم وائی. کلمه بيا په درے قسمه ده:

(۱) اسم. (۲) فعل. (۳) حرف.

اسم:- لغوی معنیٰ او چتوالے اوعلامت دے. په اسم کښې بصریانو او کوفیانو علماؤ اختلاف دے.

بصریان علماء وائی چه اسم دَ سِمُوٌ نه دے په معنیٰ دَ اوچتوالی سره نو واؤ مو ترینه خلاف قیاس حذف کړو او د دے په عوض کښې مو په اول کښې الف راوړو نو اسم ترینه جوړ شو.

او کوفیان علماء وائی چه "اسم" دَ "وِسمٌ" نه دے په معنیٰ دَ علامت سره نو واؤ مو ترینه خلاف قیاس حذف کړو او د دے په عوض کښې مو په اول کښې الف راوړو نو "اِسْمٌ" ترې نه جوړ شو.

او په اصطلاح کښې اسم هغه کلمه ده چه په خپله معنیٰ مستقل باندے

دلالت کوی او دَ دریو زمانو نه پکښې یو زمانه هم نشي موندلے لکه: رَجُلٌ او فَرَسٌ.

فعل:- لغوی معنیٰ کار کول، او په اصطلاح کښې فعل هغه کلمه ده چه خپله معنی مستقل باندے دلالت کوی او دَ دریو زمانو نه پکښې یوه زمانه موندلے شي. لکه: ضَرَبَ او دَحْرَجَ.

حرف:- لغوی معنیٰ طرف، او په اصطلاح کښې حرف هغه کلمه ده چه په خپله معنیٰ مستقل باندے دلالت نه کوی بغیر دَ ضم دَ ضمیمې نه لکه مِنْ و اِلیٰ، او که ضم دَ ضمیمې ورسره او شی نو بیا معنیٰ ورکوی لکه "سِرتُ مِنَ البَصرَةِ اِلَی الکُوفَةِ" نو په دے کښې "مِن" په ابتداء باندے دلالت کوی او "اِلیٰ" په انتها باندے دلالت کوی.

مرکب:- هغه لفظ دې چه دَ دوؤ کلمو یا دَ زیاتو نه جوړ شوې وی، مرکب بیا په دوه قسمه دې: (۱) مرکب مفید. (۲) مرکب غیر مفید.

(۱) مرکب مفید:- هغه مرکب دے چه کله ویونکے دَ هغے چُپ شی او اوریدونکی ته څه خبر یا طلب معلوم شی. دے ته جمله او کلام هم وائی. جمله بیا په دوه قسمه ده: (۱) جمله خبریه، (۲) جمله انشائیه.

جمله خبریه:- هغه جمله ده چه دَ هغے ویونکی ته صادق او کاذب وئیلے شی. جمله خبریه بیا په دوه قسمه ده: (۱) جمله اسمیه. (۲) جمله فعلیه.

جمله اسمیه:- هغه جمله ده چه دَ هغے اوّلنے جز اسم وی. لکه زیدٌ قائمٌ. په دے کښې اوّلنی جز ته مسند الیه او مبتداء وائی او دویم جز ته مسند اور خبر وائی.

جمله فعليه:۔ هغه جمله ده چه دَ هغے اوّلنے جز فعل وی، لکه ضرب زيدٌ. په دے کښې اوّلنی جز ته مسند او فعل وائی او دویم جز ته مسند اليه او فاعل وائی.

مسند حکم دے او **مسنداليه** هغه دے چه په هغه باندے حکم کيږی.

اسم مسند او مسند اليه دواړه واقع کيږی.

فعل مسند واقع کيږی او مسنداليه نه واقع کيږی.

حرف نه مسند دے او نه مسند اليه.

جمله انشائيه:۔ هغه جمله ده چه دَ هغے ویونکی ته صادق او کاذب نشی وئيلے. جمله انشائيه بيا په لس(۱۰) قسمه ده:

(۱) امر	(۲) نهی	(۳) استفهام	(۴) تمنی	(۵) ترجی
(٦) عقود	(۷) نداء	(۸) عرض	(۹) قسم	(۱۰) تعجب

امر:۔ لغوی معنیٰ حکم کول، او په اصطلاح کښې امر هغه جمله ده چه د دے په ذریعه باندے فاعل مخاطب ته دَ څه کار کولو حکم ورکړے، لکه: اِضْرِبْ.

نهی:۔ لغوی معنیٰ منع کول، او په اصطلاح کښې نهی هغه جمله ده چه د دے په ذریعه باندے فاعل مخاطب دَ څه کار کولو نه منع کړے، لکه: لَا تَضْرِبْ.

استفهام:۔ لغوی معنیٰ تپوس کول، اور په اصطلاح کښې استفهام هغه جمله ده چه د دے په ذریعه باندے دَ چا نه دَ یوے خبرے تپوس اوکړے لکه: هَلْ ضَرَبَ زَیْدٌ؟

تمنی:۔ لغوی معنٰی آرزو او خواهش کول، او په اصطلاح کښې تمنی هغه جمله ده چه د دے په ذریعه باندے ډیوے خبرے آرزو او خواهش کیږی. لکه: لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ.

ترجی:۔ لغوی معنٰی اُمید کول. او په اصطلاح کښې ترجی هغه جمله ده چه د دے په ذریعه باندے ډیوے خبرے اُمید کیږی. لکه: لَعَلَّ عَمْرًوا غَائِبٌ.

عقود:۔ ډعقد نه دے او عقد تړلو ته وائی. او په اصطلاح کښې عقود هغه جمله ده چه د دے په ذریعه باندے خرید وفروخت کیږی. لکه: بِعْتُ وَاشْتَرَيْتُ.

نداء:۔ لغوی معنٰی آواز کول. او په اصطلاح کښې نداء هغه جمله ده چه د دے په ذریعه باندے ډچا توجه ځان طرف ته را اوګرځوے. لکه: يَااَللّٰهُ، يَارَسُوْلَ اللّٰهِ، يَاعَبْدَاللّٰهِ.

عرض:۔ لغوی معنٰی درخواست کول. او په اصطلاح کښې عرض هغه جمله ده چه د دے په ذریعه باندے چا ته ډیوے خبرے درخواست کولے شی. لکه: اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا.

قسم:۔ لغوی معنٰی. نصیب او حصه او په اصطلاح کښې قسم هغه جمله ده چه د دے په ذریعه باندے ډیو محترم شی ذکر اوکړے او خپله خبره پرے مضبوطه کړے. لکه: وَاللّٰهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا.

تعجب:۔ لغوی معنٰی خیرانتیا. او په اصطلاح کښې تعجب دے ته

ائي چه دَ کوم يو څيز سبب پټ وي نو دَ هغے په ظاهريدلو سره په زړه کښې کوم کيفيت او کوم حالت پيداشي نو دے ته تعجب وائي. لکه: ما حُسَنَهٗ وَاَحْسِنْ بِهٖ.

(۲) مرکب غير مفيد:۔ هغه مرکب دے چه ويونکے پرے چُپ پاتے شي او اوريدونکي ته څه خبر يا طلب معلوم نشي. مرکب غير مفيد بيا په درے قسمه دے.

(۱) مرکب اضافي. (۲) مرکب بنائي. (۳) مرکب منع صرف

مرکب اضافي:۔ هغه مرکب غير مفيد دے چه اولنے جز ئے مضاف وي او دويم جز ئے مضاف اليه وي او مضاف اليه به هميشه مجرور وي. لکه: غُلَامُ زيدٍ۔

مرکب بنائي:۔ هغه مرکب غير مفيد دے چه دوه اسمونه يو ځائے شوے وي او دويم اسم متضمن وي يو حرف ته يعني د دے دويم اسم په ضمن کښې يو حرف پټ پروت وي لکه: اَحَدَ عَشَرَ تا تِسْعَةَ عَشَرَ چه دا په اصل کښې اَحَدٌ وَّ عَشَرٌ تا تِسْعَةٌ وَّعَشَرٌ وو. واؤ مو ترې نه حذف کړو. دواړو اسمونه مو يو ځائے کړه او دواړه مو مبني بر فتحه کړه. نو اَحَدَ عَشَرَ تا تِسْعَةَ عَشَرَ ترينه جوړ شو.

سوا دَ اِثْنَا عَشَرَ نه ځکه چه په دے کښې اولنے جز معرب دے او دويم جز مبني بر فتحه دے.

مرکب منع صرف:۔ هغه مرکب غير مفيد دے چه دوه اسمونه يو ځائے شوے وي او دويم اسم متضمن نه وي يو حرف ته.لکه: بَعْلَبَكُّ او

حضَرَ مَوْتُ. په دے کښې بَعْلَ بُت ته وائی او بَکُّ بادشاه ته وائی.

نو دا دواړه ئے یو ځائے کړل او یو ښار لره ئے نوم کیخودلو او په حَضَرَ مَوْتُ کښې حَضَر دَ ښار نوم دے او مَوْتُ مرګ ته وائی نو دا دواړه ئے یو ځائے کړل او یو ښار لره ئے نوم کیخودلو.

نو په دے کښې اوّلنے جز دَ اکثرو علماء په نزد باندے مبنی بر فتحه دے او دویم جزئے معرب دے.

دَ مرکب غیر مفید حکم دا دے چه دے به همیشه جز دَ جملے واقع کیږی.

لکه غُلَامُ زَیْدٍ قَائِمٌ، عِنْدِیْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا، جَآءَ بَعْلَبَكُّ.

فصل:۔ هیڅ یوه جمله به دَ دوؤ کلمونه کمه نه وی لفظاً یا تقدیراً دَ لفظاً مثال لکه: ضَرَبَ زیدٌ، زیدٌ قائمٌ.

دَ تقدیرا مثال لکه اِضْرِبْ چه په دے کښې اَنْتَ ضمیرَ مستتر دے.

جمله به دوؤ کلمونه زیاته هم وی او زیاتو لره حد نشته دے.

﴿اوس درته کتاب والا دَ مطالعے طریقه ښائی﴾

کله چه په جمله کښې کلمات زیات شی نو اسم،فعل، حرف به ترینه جدا کړے بیا به په کښې معرب و مبنی معلوم کړے.بیا به پکښې عامل او معمول معلوم کړے. بیا به پکښې مسند او مسند الیه معلوم کړے نو د دے نه پس به درته دَ جملے معنیٰ په تحقیق سره معلومه شی.



فصل:۔ علامات دَ اسم یوولس (۱۱) دی.

(۱) چه الف لام ئے په اول کښې وی لکه: اَلْحَمْدُ.

(۲) چه حرف جر ئے په اول کښې وی لکه: بِزَیْدٍ.

(۳) چه تنوین ئے په آخر کښې وی لکه: زَیْدٌ.

(۴) چه مسند الیه وی لکه: زَیْدٌ قَائِمٌ.

(۵) چه مضاف وی لکه: غُلَامُ زَیْدٍ.

(۶) چه مصغر وی یعنی دَ تصغیر معنیٰ پکښې موندے شی لکه: ضُوَیْرِبٌ.

(۷) چه منسوب وی لکه: بَغْدَادِیٌّ.

(۸) چه تثنیه وی لکه: رَجُلَانِ.

(۹) چه جمع وی لکه: رِجَالٌ.

مبنی:۔ هغه کلمه ده چه آخر د دے په اختلاف دَ عواملو سره نه مختلف کیږی، لکه: جَآءَنِی هٰؤُلَآءِ، رَأَیْتُ هٰؤُلَآءِ، مَرَرْتُ بِهٰؤُلَآءِ. یعنی په حالتِ رفع، نصب او جر کښې یو شانتے دی.

فصل:۔ ټول حروف مبنی دی دَ افعالو نه فعل ماضی او امر حاضر معروف مبنی دے. دے دریو (۳) ته مبنی الاصل وائی. فعل مضارع چه دَ نونونو دَ جمع مؤنث او دَ نونونو دَ تاکید سره وی نو دا به هم مبنی وی. اسم غیر متمکن هم مبنی دے او اسم متمکن هم مبنی دے خو په دے شرط سره چه په ترکیب کښې واقع نه وی. اوکه په ترکیب کښې واقع وی نو بیا معرب دے او فعل مضارع چه دَ نونونو دَ جمع مؤنث او دَ نونونو دَ تاکید نه خالی وی نو دا به بیامعرب وی نو پس په کلام دَ عربو کښې دا دوه (۲) قسمه معرب دی باقی ټول مبنی دی.

اسم غیر متمکن:۔ هغه اسم دے چه دَ مبنی الاصل سره مشابهت لری. مبنی الاصل درے (۳) څیزونه دی تمام حروف دَ افعالونه فعل ماضی او امر حاضر معروف.

اسم متمکن:۔ هغه اسم دے چه دَ مبنی الاصل سره مشابهت نه لری.

فصل:۔ اسم غیر متمکن بیا په اَته (۸) قسمه دے.

(۱) مضمرات (۲) اسمائے اشارات (۳) اسمائے موصوله
(۴) اسمائے افعال (۵) اسمائے اصوات (۶) اسمائے ظروف
(۷) اسمائے کنایات (۸) مرکب بنائی.

(۱۰) چه موصوف وی لکه: جَآءَ رَجُلٌ عَالِمٌ.

(۱۱) چه تائے متحرکه ئے په آخر کښې وی لکه: ضَارِبَةٌ.

﴿علامات دَ فعل اَته (۸) دی﴾

(۱) چه قد ئے په اول کښې وی. لکه: قَدْضَرَبَ.

(۲) سین ئے په اول کښې وی. لکه: سَیَقُوْلُ، سَیَضْرِبُ.

(۳) سوف ئے په اول کښې وی. لکه: سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ.

(۴) حرف جزم ئے په اول کښې وی لکه: لَمْ یَضْرِبْ.

(۵) ضمیر مرفوع متصل ئے په آخر کښې وی، لکه: ضَرَبْتُ.

(۶) تائے ساکنه ئے په آخر کښې وی. لکه: ضَرَبَتْ.

(۷) چه امر وی لکه: اِضْرِبْ.

(۸) چه نهی وی لکه: لَاتَضْرِبْ.

﴿علامات دَ حرف﴾

چه هیڅ یو علامت دَ علاماتو دَ اسم او دَ فعل نه په کښې نه وی. نو هغه به دَ حرف علامت وی.

فصل:۔ کلمات دَ عربو په دوه قسمه دی. (۱) معرب (۲) مبنی.

معرب:۔ هغه کلمه ده چه آخر دَ دے په اختلاف دَ عواملو سره مختلف کیږی. لکه: جَآءَ نِی زَیْدٌ، رَاَیْتُ زَیْدًا، مَرَرْتُ بِزَیْدٍ.

په دے کښې جَآءَ، رَاَیْتُ، او با حرف جاره عوامل دی. زَیْدٌ پکښې معرب دے. ضمه فتحه او کسره پکښې اعراب دے. او دال پکښې محل دَ اعراب دے.

(۳) **ضمیر منصوب متصل:**۔ هغه ضمیر دے چه په محل د نصب کښې واقع وی او د خپل عامل سره متصل وی لکه: ضَرَبَنِیْ، ضَرَبَنَا، ضَرَبَكَ، ضَرَبَكُمَا، ضَرَبَكُمْ، ضَرَبَكِ، ضَرَبَكُمَا، ضَرَبَكُنَّ، ضَرَبَهٗ، ضَرَبَهُمَا، ضَرَبَهُمْ، ضَرَبَهَا، ضَرَبَهُمَا، ضَرَبَهُنَّ.

(۴) **ضمیر منصوب منفصل:**۔ هغه ضمیر دے چه په محل د نصب کښې واقع وی او د خپل عامل سره متصل نه وی لکه: اِیَّایَ، اِیَّانَا، اِیَّاكَ، اِیَّاكُمَا، اِیَّاكُمْ، اِیَّاكِ، اِیَّاكُمَا، اِیَّاكُنَّ، اِیَّاهُ، اِیَّاهُمَا، اِیَّاهُمْ، اِیَّاهَا، اِیَّاهُمَا، اِیَّاهُنَّ۔

(۵) **ضمیر مجرور متصل:**۔ هغه ضمیر دے چه په محل د جر کښې واقع وی او د خپل عامل سره متصل وی لکه: لِیْ، لَنَا، لَكَ، لَكُمَا، لَكُمْ، لَكِ، لَكُمَا، لَكُنَّ، لَهٗ، لَهُمَا، لَهُمْ، لَهَا، لَهُمَا، لَهُنَّ۔

(۲) **اسمائے اشارات:**۔ هغه اسماء دی چه په کلام د عربو کښې د اشارے حِسّی د پاره استعمالیږی.

ذَا ...... د واحد مذکر د پاره.

ذَانِ ...... په حالت رفعی کښې.

ذَیْنِ ...... په حالت نصبی جری کښې د تثنیے مذکر د پاره.

تَا، تِیْ، تِهٗ، ذِهٗ، ذِهِیْ، تِهِیْ ...... د واحد مؤنث د پاره.

تَانِ ...... په حالت رفعی کښې.

تَیْنِ ...... په حالت نصبی جری کښې د تثنیے مؤنث د پاره.

اُوْلَاۤءِ بمداو اُوْلٰی بقصر د جمع مذکر مؤنث دواړو د پاره.

(۱) مضمرات:۔ دَ ضمير جمع ده غير قياسي.

ضمير:۔ هغه اسم دے چه دَ هغې وضع دَ متكلم يا مخاطب يا دَ
غائب دپاره شوے وي چه دَ هغې ذكر حقيقتاً يا حكماً مخكښې شـ
وي. دَ حقيقتاً مثال لكه: ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامَهُ . او دَ حكماً مثال لكه: و
لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ.

ابتداءً ضمير په درے قسمه دے.(۱) مرفوع. (۲) منصوب. (۳) مجر
دَ مجرور نه علاوه هر يو په دوه قسمه دے.

مرفوع هم په دوه قسمه دے. (۱) مرفوع متصل (۲) مرفوع منفصـ
منصوب هم په دوه قسمه دے. (۱) منصوب متصل (۲) منصوب منفـ
او دَ مجرور متصل دا يو قسم استعمال دے او مجرور منفصل په كلا
عربو كښې نه دے راغلے.

نو دا ټول پنځه ضمائر شو. او په هر يو كښې څورالس ضمائر
نو پانځه لره چه په څوارلس (۱۴) كښې ضرب وركړے نو ټول اويا (۷۰) ضـ
شو. يعنې 14x5=70 ضمائر.

(۱) ضمير مرفوع متصل:۔ هغه ضمير دے چه په محل دَ رفـ
كښې واقع وي او دَ خپل عامل سره متصل وي لكه: ضَرَبْتُ، ضَرَبْنَا
ضَرَبْتَ، ضَرَبْتُمَا، ضَرَبْتُمْ، ضَرَبْتِ، ضَرَبْتُمَا، ضَرَبْتُنَّ، ضَرَبَ، ضَرَبَا
ضَرَبُوْا، ضَرَبَتْ، ضَرَبَتَا، ضَرَبْنَ.

(۲) ضمير مرفوع منفصل:۔ هغه ضمير دے چه په محل دَ رفع
كښې واقع وي او دَ خپل عامل سره متصل نه وي لكه: اَنَا، نَحْنُ، اَنْتَ،
اَنْتُمَا، اَنْتُمْ، اَنْتِ، اَنْتُمَا، اَنْتُنَّ، هُوَ، هُمَا، هُمْ، هِيَ، هُمَا، هُنَّ.

[illegible] : [illegible] [illegible]

[illegible]

[illegible] : د واحد مذکر د پاره

[illegible] : په حالت د غیر کښې

[illegible] : په حالت نصب جر کښې د تثنيې مذکر د پاره.

[illegible] : د جمع مذکر د پاره

[illegible] : د واحد مؤنث د پاره

[illegible] : په حالت رفع کښې

[illegible] : په حالت نصبي جري کښې د تثنيې مؤنث د پاره.

[illegible] : د جمع مؤنث د پاره

[illegible] : [illegible] د پاره استعماليږي غالباً لکه: [illegible]

[illegible]

[illegible] : [illegible] د پاره استعماليږي غالباً لکه: [illegible]

[illegible] : د مذکر و مؤنث دواړو د پاره استعماليږي. لکه: [illegible]

[illegible]

[illegible] : [illegible] د پاره استعماليږي. [illegible]

[illegible] حالت کښې مبني دي.

[illegible] : [illegible]

[illegible] لکه: [illegible]

(۲) أَيٌّ وَ أَيَّةٌ: چه مضاف وي او صدر صلة ئې مذكور نه وي نو په
دې حالت كښې به مبني وي. لكه: أَيُّهُمْ قَائِمٌ

(۳) أَيٌّ وَ أَيَّةٌ: چه مضاف نه وي او صدر صلة ئې مذكور وي نو
په دې حالت كښې به معرب وي. لكه: أَيٌّ هُوَ قَائِمٌ

(۴) أَيٌّ وَ أَيَّةٌ: چه مضاف نه وي او صدر صلة ئې هم مذكور نه وي
نو په دې حالت كښې به هم معرب وي. لكه: أَيٌّ قَائِمٌ

الف لام: په معنى د اَلَّذِيْ سره راځي كله چه په اسم فاعل او اسم مفعول باندې داخل شي. لكه: اَلضَّارِبُ بمعنى اَلَّذِيْ ضَرَبَ وَالْمَضْرُوْبُ بمعنى اَلَّذِيْ ضُرِبَ

ذُوْ: په معنى د اَلَّذِيْ سره راځي د بنو طيء قبيلې په لغت كښې. لكه: جَاءَنِيْ ذُوْ ضَرَبَكَ بمعنى اَلَّذِيْ ضَرَبَكَ.

(۳) اسمائے افعال: هغه اسماء دي چه په لفظ كښې اسماء وي او په معنى كښې افعال وي. دا بيا په دوه قسمه دي.
بعض په معنى د امر حاضر سره راځي او بعض په معنى د فعل ماضي سره راځي. هغه اسمائے افعال چه په معنى د امر حاضر سره راځي نو هغه دا دي.

رُوَيْدَ: په معنى د أَمْهِلْ سره يعنې ته مهلت ورکړه.

بَلْهَ: په معنى د دَعْ سره يعنې ته پريږده.

حَيْهَلْ او هَلُمَّ: په معنى د إِيْتِ سره يعنې ته راشه.

او هغه اسمائے افعال چه په معنى د فعل ماضي سره راځي نو هغه دا دي.

هَيْهَاتَ: په معنى د بَعُدَ سره. **شَتَّانَ:** په معنى د اِفْتَرَقَ سره.

(۵) اسمائے اصوات:۔ هغه الفاظ دی چه دَ هغے نه تعبیر کیږی
صوت دَ يو حيوان. لکه: أخ،أخ:. دَ توخی په وخت کښې.

أُف:. دَ تکلیف په وخت کښې.

بَخ:. دَ خوشحالئی په وخت کښې.

نَخ:. دَ اوښ کیناستلو په وخت کښې.

غاق:. دَ کارغه آواز ته وائی.

(۶) اسمائے ظروف:۔ ظروف جمع ظرف ده او ظرف لوخی ته وائی
څه چه پکښې پراته وی نو هغے ته مظروف وائی. ظرف بيا په دوه قسـ
دے (۱) ظرف زمان. (۲) ظرف مکان.

ظرفِ زمان:۔ هغه ظرف دے چه يو کار په يوه زمانه کښې واقع وی.

ظرفِ مکان:۔ هغه ظرف دے چه يو کار په يو مکان کښې واقع وی.

ظروفِ زمانيه دا دی: إذْ،إذا،مَتٰی، كَيْفَ،أيَّانَ،أمْسِ،مُذْ،مُنْذُ، قَطُّ،
عَوضُ، قَبْلُ،بَعْدُ.

إذْ:۔ دَ ماضی دَ پاره راځی لکه: قَدِمَ زَيْدٌ إذْ عَمْرٌو نَائِمٌ.

إذَا:۔ دَ مستقبل دَ پاره راځی اګر که په ماضی باندے داخل شی. لکه: اٰتِيكَ
إذا الشَّمْسُ طَالِعَةٌ.

مَتٰی:۔ دَ استفهام دَ پاره راځی، لکه: مَتَی السَّاعَةُ؟ او کله کله دَ شرط دَ پاره
هم راځی لکه: مَتٰی تَذْهَبْ اَذْهَبْ.

CamScanner

كَيْفَ:۔ دَ حال معلومولو د پاره راځي، لکه: كَيفَ حَالُكَ؟ او کله دَ شرط د پاره هم راځي، لکه: كَيفَ تَذْهَب اَذْهَب.

اَيَّانَ:۔ دَ استفهام د پاره راځي، لکه: ايَّان يَومُ الدين؟

اَمْسِ:۔ په پرونئ تیره شوې زمانه باندې دلالت کوي. لکه: جَآءَ نِیْ زَیْدٌ اَمسِ.

مُذْ،مُنْذُ:۔ اوله معنیٰ دا ده چه دا دلالت کوي په هغه زمانه باندے چه دَ هغې نه دَ فعل ابتداء شوې وی، لکه: ما رأيته مُذ يوم الجمعة. او دویمه معنیٰ ئے دا ده چه دا دلالت کوی په ټوله زمانه باندے، لکه: مَارَأَيْتَهُ مُذ يَوْمَيْن.

قَطُّ:۔ دَ ماضی منفی دَ تاکید دپاره راځي، لکه: مَارَأَيْتُهُ قَطُّ.

عَوْضُ:۔ دَ مستقبل منفی تاکید د پاره راځي، لکه: لَااَرَاه عَوضُ.

قَبْلُ:۔ دَ فعل نه مخکښې زمانه باندے دلالت کوی.

بَعْدُ:۔ دَ فعل نه روستو زمانه باندے دلالت کوی.

دَ قَبلُ او بَعدُ درے حالته دی. په دوؤ حالتو کښې معرب دے او په يو حالت کښې مبنی برضمه دے.

(۱) **قبلُ او بعدُ:**۔ چه مضاف وی او مضاف الیه په لفظ کښې موجود وی نو په دے حالت کښې به معرب وی، لکه: قَد خَلَت من قبله الرُّسُل.

(۲) **قبلُ او بعدُ:**۔ چه مضاف وی او مضاف الیه محذوف منوی وی یعنی په نیت کښې مراد وی نو په دے حالت کښې به مبنی برضمه وی، لکه: اَمَّا بعدُ.

(۳) **قبلُ او بعدُ:**۔ چه مضاف وی او مضاف الیه نسیاً منسیاً حذف

فصل:۔ دَ تعریف وتنکیر په لحاظ سره اسم په دوه قسمه دے:

(۱) معرفه (۲) نکره.

(۱) معرفه:۔ هغه اسم دے چه دَ یو معین څیز د پاره وضع کړے شوے وی دا بیا په اووه(۷) قسمه ده.

(۱) مضمرات (۲) اعلام. لکه: زید،عمرو،بکر وغیره

(۳) اسمائے اشارات

(۴) اسمائے موصوله دے دوؤ ته مبهمات وائی، ځکه چه دَ اشارے معنیٰ دَ مشارٌ الیه میلاویدو نه بغیر نه تمامیږی او دَ موصول معنیٰ دَ صلے میلاویدو نه بغیر نه تمامیږی. نو ځکه دے دوؤ ته مبهمات وائی.

(۵) معرفه بنداء لکه: یا رَجُل.

(٦) معرفه بالف ولام، لکه: الرّجل.

(۷) دَ معرفے بنداء نه علاوه دے پنځو ته چه کوم شے مضاف شی نو هغه هم معرفه کرځی. لکه: غُلامه، غُلامُ زید، غُلامُ هٰذا، غُلام الذی عندی، غُلامُ الرّجل.

(۲) نکره:۔ هغه اسم دے چه دَ یو غیر معین څیز د پاره وضع کړے شوے وی، لکه: رَجُلٌ او فَرَسٌ.

دَ تذکیر وتانیث په لحاظ سره اسم په دوه(۲) قسمه دے: (۱) مذکر (۲) مؤنث.

(۱) مذکر:۔ هغه اسم دے چه په هغے کښې علامت دَ تانیث نه وی، لکه:رَجُلٌ

(۲) مؤنث:۔ هغه اسم دے چه په هغے کښې علامت دَ تانیث وی، لکه:اِمرأةٌ. (علامت دَ تانیث څلور دی).

CamScanner

وي یعنی نه په لفظ کښې ذکر وي او نه په نیت کښې مراد وي نو په دے حالت کښې به معرب وي. لکه: من قَبْلٍ او مِن بَعْدٍ.

ظروفِ مکانیه دا دي: حَیْثُ،قُدَّامُ،تَحْتُ،فَوْقُ.

حَیْثُ: - معنیٰ کوم ځائے، لکه: مِن حیثُ خَرَجتَ.

قُدَّامُ: - هغه ځائے یا هغه مکان چه دَ شی نه مخکښې وي، لکه: اَلغُرفَةُ قُدَّام المسجد.

تَحْتُ: - هغه ځائے یا هغه مکان چه دَ شی دَ لاندے وي، لکه: اَلْاَرْضُ تَحتَ السَّمَآء.

فَوْقُ: - هغه ځائے یا هغه مکان چه دَ شی دَ پاسه وي، لکه: اَلسَّمَآءُ فَوقَ الارضِ.

(۷) **اسمائے کنایات:** - دے ته وائی چه په کومه معنیٰ بانْدے ستا دلالت مقصود وي دَ هغے دپاره ئے وضع هم نه وي شوے او صریحی دلالت پرے هم نه کوي. اسمائے کنایات په دوه قسمه دي.(۱) کنایه از عدد (۲) کنایه از حدیث.

کنایه از عدد: - دے ته وائی چه د دغه عدد د پاره ئے وضع هم نه وي شوے او صریحی دلالت پرے هم نه کوي، لکه: کم وکذا. کَم معنیٰ څومره، کَذا معنیٰ دومره.

کنایه از حدیث: - دے ته وائی چه د دغه حدیث د پاره ئے وضع هم نه شوے او صریحی دلالت پرے هم نه کوي، لکه: کَیتَ ذَیتَ(هغه دغه).

(۸) **مرکب بنائي:** - هغه مرکب غیر مفید دے چه دوه اسمونه یو ځائے شوے وي او دویم اسم متضمن وي یو حرف ته، لکه: اَحَدَ عَشَرَ.

چه دَ دے واحد هم فُلك دے او جمع ئے هم فُلك ده. خو واحد فُلك دَ قُفل په وزن باندے راځي او جمع فُلك دَ أُسد په وزن باندے راځي. جمع په اعتبار دَ لفظ سره په دوه قسمه ده. (۱) جمع تکسير (۲) جمع تصحيح.

(۱) **جمع تکسير:**۔ هغه جمع ده چه په هغے کښې بناء دَ واحد سالم نه وی پاتے شوے، لکه: رِجَالٌ او مَسَاجِدُ.

او صيغے دَ جمعے تکسيرے په ثلاثيو کښې دَ سَماع پورے تعلق لری، قياس لره په کښې دخل نشته دے. البته رباعی او خماسی دَ فَعَالِلُ په وزن باندے راځي. لکه: جَعْفَرٌ نه جَعَافِرُ او دَ جَحمَرِشٌ نه جَحَامِرُ په حذف دَ حرف خامس سره.

(۲) **جمع تصحيح:**۔ هغه جمع ده چه په هغے کښې بناء دَ واحد سالم پاتے شوے وی. دا بيا په دوه قسمه ده. (۱) جمع مذکر (۲) جمع مؤنث.

(۱) **جمع مذکر:**۔ هغه جمع ده چه د دے په آخر کښې واؤ ماقبل مضموم يا يائے ماقبل مکسور او نونِ مفتوحه وی، لکه: مُسْلِمُوْنَ په حالت رفعی کښې. مُسْلِمِيْنَ په حالت نصبی جری کښې.

(۲) **جمع مؤنث:**۔ هغه جمع ده چه د دے په آخر کښې الف او تاء راغلی وی، لکه: مُسْلِمَاتٌ.

جمع په اعتبار دَ معنیٰ سره په دوه قسمه ده. (۱) جمع قلّت (۲) جمع کثرت.

(۱) **جمع قلت:**۔ هغه جمع ده چه په کم دَ لسو(۱۰) باندے ئے اطلاق کيږی.

دويم تعريف:۔ هغه جمع ده چه دَ تين(۳) نه واخله تر نهو(۹) پورے دلالت کوی، دَ جمع قلت شپږ اوزان دی.

(۱) تائے لفظی لکه: طَلْحَةُ.

(۲) الف مقصوره، لکه: حُبْلٰی.

(۳) الف ممدوده، لکه: حَمْرَآءُ.

(۴) تائے مقدره، لکه: اَرْضٌ چه دا په اصل کښې "اَرْضَةٌ" وو په دلیل دَ "اُرَیْضَةٌ" سره ځکه چه تصغیر اسماؤ لره خپل اصل ته ګرځوی. دے ته مؤنث سماعی هم وائی.

مؤنث بیا په دوه قسمه دے. (۱) مؤنث حقیقی (۲) مونث لفظی.

(۱) مؤنثِ حقیقی:۔ هغه مؤنث دے چه د دے په مقابله کښې حیوان مذکر وی، لکه: اِمْرَأَةٌ په مقابله کښې رَجلٌ دے او ناقةٌ په مقابله کښې جَمَلٌ دے.

(۲) مؤنثِ لفظی:۔ هغه مؤنث دے چه د دے په مقابله کښې حیوان مذکر نه وی، لکه: ظُلْمَةٌ او قُوَّةٌ.

اسم په درے قسمه دے: (۱) واحد (۲) تثنیه (۳) جمع.

(۱) واحد:۔ هغه اسم دے چه په یو بانده دلالت کوی، لکه: رجلٌ.

(۲) تثنیه:۔ هغه اسم دے چه په دوؤ بانده دلالت کوی. په دے سبب سره چه د دے په آخر کښې الف ماقبل مفتوح یا یائے ماقبل مفتوح او نون مکسوره وی، لکه: رَجُلانِ په حالت رفعی کښې.

او رَجُلَیْنِ په حالت نصبی جری کښې.

(۳) جمع:۔ هغه اسم دے چه دَ دوؤ نه په زیاتو بانده دلالت کوی په دے سبب سره چه د دے په واحد کښې تبدیلی شوے وی لفظاً یا تقدیراً دَ لفظاً مثال لکه: رِجالٌ، او تقدیراً مثال لکه: فُلكٌ.

اسم متمکن په اعتبار دَ اقسامو دَ اعراب سره په شپاړس قسمه دے.

(۱) مفرد منصرف صحیح. (۲) مفرد منصرف جارئی مجرائی صحیح.
(۳) جمع مکسر منصرف. (۴) جمع مؤنث سالم.(۵) غیر منصرف.
(٦) اسمائے سته مکبره مضاف بغیر یائے متکلم.(۷) مُثنیٰ.(۸) کلا و کلتا مضاف بمضمر(۹) اثنان و اثنتان.(۱۰) جمع مذکر سالم.(۱۱) اُولو.(۱۲) عِشْرُوْنَ تاتِسْعُوْنَ.(۱۳) اسم مقصور.(۱۴) غیر جمع مذکر سالم مضاف بیائے متکلم.(۱۵) اسم منقوص.(۱٦) جمع مذکر سالم مضاف بیائے متکلم.

(۱) مفرد منصرف صحیح:۔ مفرد چه تثنیه او جمع نه وی. منصرف چه غیر منصرف نه وی. صحیح چه په آخر کښې ئے حرف علت نه وی، لکه: زَیْدٌ. یعنی صحیح په اصطلاح دَ اهل نحو کښې دې ته وائی چې په آخر کښې ئې حرف علت نهٔ وی.

(۲)مفرد منصرف جارئی مجرائی صحیح:۔ مفرد چه تثنیه او جمع نه وی. منصرف چه غیر منصرف نه وی، جارئی مجرائی صحیح دے ته وائی چه په آخر کښې حرف علت وی او ماقبل ترینه ساکن وی. لکه: دَلْوٌ او ظَبْیٌ.

(۳)جمع مکسر منصرف:۔ جمع مکسر چه جمع سالم نه وی، منصرف چه غیر منصرف نه وی. لکه: رِجالٌ.

اعراب:۔ د دے دریواړو اعراب یو شانتے دے. یعنی
رفع به ئے په ضمے سره وی، نصب به ئے په فتحے سره وی، جر به ئے په کسرے سره وی. لکه:

جَآءَنِی زَیْدٌ	رَاَیْتُ زَیْدًا	مَرَرْتُ بِزَیْدٍ
جَآءَنِی دَلْوٌ	رَاَیْتُ دَلْوًا	مَرَرْتُ بِدَلْوٍ
جَآءَنِی رِجالٌ	رَاَیْتُ رِجَالاً	مَرَرْتُ بِرِجالٍ

په دوؤ اوزانو کښې قيد دے او په څلورو اوزانو کښې قيد نشته دے. هغه څلور اوزان چه په هغے کښې قيد نشته دے نو هغه دا دي، لکه:

(۱) اَفْعُلٌ لکه اَكْلُبٌ:. دَ كلب جمع ده په معنىٰ دَ سپي سره.

(۲) اَفْعَالٌ لکه اَقْوَالٌ:. دَ قول جمع ده په معنىٰ دَ خبرو سره.

(۳) اَفْعِلَةٌ لکه اَعْوِنَةٌ:. دَ عوان جمع ده په معنىٰ د درميانه سره.

(۴) فِعْلَةٌ لکه غِلْمَةٌ:. دَ غلام جمع ده په معنىٰ دَ مرئى سره.

او هغه دوه اوزان چه په هغے کښې قيد دے نو هغه دا دي:

مُسْلِمُوْنَ او مُسْلِمَاتٌ:۔ که چرے په دے باندے "الف لام" داخل نه وي نو دا به دَ جمع قلت په اوزانو کښې حسابيږي. او که چرے په دے باندے "الف،لام" داخل وي نو دا به بيا دَ جمع کثرت په اوزانو کښې حسابيږي.

(۲) جمع کثرت:۔ هغه جمع ده چه په لسو(۱۰) يا دَ لسو(۱۰) نه په زياتو باندے دلالت کوي.

دَ هغه شپږو(٦) اوزانو نه علاوه چه څومره اوزان راځي نو هغه به دَ جمع کثرت اوزان وي.

اعراب په دوه(۲) قسمه دے: (۱) اعراب بالحرکت (۲) اعراب بالحرف.

اعراب بالحرکت:۔ لکه ضمه، فتحه، کسره.

اعراب بالحرف:۔ لکه واؤ، الف، ياء.

دَ اسم اعراب درے دي. رفع، نصب، جر.

دَ فعل اعراب هم درے دي. رفع، نصب او جزم.

(۲) عدل تقدیری:۔ هغه عدل دے چه هغه عربو غیر منصرف لوستلے وی او دَ هغے په اصل باندے دلیل موجود نه وی. لکه: عُمر معدول دے دَ عامر نه.

نو په عُمر کښې دوه سببه دی دَ اسبابو دَ منع صرف نه یو په کښې علمیت دے او بل په کښې عدل تقدیری دے. لهٰذا غیر منصرف دے تنوین او کسره ورباندے نه رائحی.

(۲) وصف:۔ دَ وصف لغوی معنیٰ دہ تعریف کول. او په اصطلاح کښې وصف هغه اسم دے چه په یو ذاتِ مبهم باندے دلالت کوی. لکه: اَحْمَر شو دَ اَحْمَرُ، معنیٰ ده سور نو اوس په دے کښې ابهام دے چه سور څه شے مراد دے چه سرۂ جهنډا ترینه مراد ده او که سرۂ منړه ترینه مراد ده وغیره.

نو په دے کښې دوه سببه دَ اسبابو دَ منع صرف نه یو پکښې وصف دے او بل پکښې وزن فعل دے. لهٰذا غیر منصرف دے تنوین او کسره ورباندے نه رائحی.

(۳) تأنیث:۔ نه مراد مؤنث دے، تانیث بیا په دوه قسمه دے.

(۱) تأنیث لفظی (۲) تأنیث معنوی

(۱) تأنیث لفظی:۔ هغه تأنیث دے چه په لفظ کښې ئے "تاء" موجوده وی، لکه طلحةُ نو په دے کښې دوه سببه دی دَ اسبابو دَ منع صرف نه یو پکښې تأنیث لفظی دے او بل پکښې علمیت دے لهٰذا غیر منصرف دے تنوین او کسره ورباندے نه رائحی.

(۲) تأنیث معنوی:۔ هغه تأنیث دے چه په لفظ کښې تاء نه وی

(۴)جمع مؤنث سالم:- هغه جمع ده چه د دے په آخر کښې الف او تا
راغلی وی، لکه: مُسْلِمَاتٌ.

اعراب:- رفع به ئے په ضمے سره وی، نصب او جر به ئے په کسرے سر
وی. یعنی حالت نصبی به دَحالت جری تا بع وی. لکه:

هُنَّ مُسْلِمَاتٌ رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ مِرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ

(۵)غیر منصرف:- هغه اسم دے چه دَ اسبابو دَ منع صرف نه پ
کښې دوه سببه یا یو سبب چه قائم مقام دَ دوؤ سببو دے او موندے شي
اسباب دَ منع صرف نهه دی.

(۱) عدل (۲) وصف (۳) تأنیث (۴) معرفه (۵) عجمه
(٦) جمع (۷) ترکیب (۸) وزن فعل (۹)الف نون زائد تان

(۱) عدل:- لغوی معنیٰ گرځول، او په اصطلاح کښې عدل هغه اسم
دے چه بغیر دَ قاعدے او قانونِ صرفی نه یوه صیغه دَ بلے صیغے نه
جوړه شوے وی. عدل بیا په دوه قسمه وے.

(۱) عدل تحقیقی (۲) عدل تقدیری

(۱) عدل تحقیقی:- هغه عدل دے چه هغه عربو غیر منصرف
لوستلے وی او دَ هغے په اصل باندے دلیل موجود وی، لکه: ثَلٰثُ او
مَثْلَثُ.

چه د دے معنیٰ ده درے درے پس زمونږ سره دا دلیل موجود دے چه
دا په اصل کښې ثَلاثَةٌ ثَلاثَةٌ وو. ځکه چه تکرار دَ معنیٰ دلیل دے په
تکرار دَ لفظ باندے.

وی لکه: دَوَابُّ یا به دَ الف جمع منتهی الجموع نه پس دوه حرفه راغلی وی نو اوّلنے به مکسور وی لکه: مَسَاجِدُ.

یا به درے حرفه وی نو په دے کښې به درمیان والا ساکن وی لکه: مَصَابِیْحُ.

او جمع منتهی الجموع قائم مقام دَ دوؤ سببو ده لهٰذا غیر منصرف ده تنوین او کسره وربانده نه راځی او که چرے دَ دے په آخر کښې "تاء" راغلی وی نو بیا به منصرف وی لکه: فَرَازِنَةٌ.

(۷) **ترکیب:۔** نه مطلب دا دے چه دوه اسمونه یو ځائے شوے وی بغیر دَ اضافت او دَ اسناد نه او بیا دغه دواړه اسمین دَ چا د پاره عَلَم ګرځیدلی وی. لکه: مَعْدِ یْکَرَبُ، دا دیو سړی نوم دے.

په دے کښې دوه سببه دی دَ اسبابو دَ منع صرف نه یو پکښې علمیت دے او بل پکښې ترکیب دے لهٰذا غیر منصرف دے تنوین او کسره وربانده نه راځی.

(۸) **وزن فعل:۔** نه مطلب دا دے چه یو اسم په داسے وزن سره راغلی وی چه هغه وزن خاص وی تر فعل پورے لکه: ضُرِبَ، دا دَ یو سړی نوم دے. اوس دا ضُرِبَ په اصل کښې دَ ماضی مجهول صیغه ده خو اوس دَ عَلَم ګرځیدلے دے دَ یو سړی د پاره. نو په دے کښې دوه سببه دی دَ اسبابو دَ منع صرف نه یو پکښې علمیت دے او بل پکښې وزن فعل دے لهٰذا غیر منصرف دے تنوین او کسره وربانده نه راځی.

یا دا چه دغه کلمه داسے اسم وی چه دَ هغے په اول کښې یو حرف دَ حروفِ اتینُ نه راغلی وی. لکه اَحْمَدُ. دا د یو سړی نوم دے.

موجوده خو نوم گرځیدلی وی دَ مؤنث د پاره، لکه: زینبُ.
په دے کښې دوه سببه دی دَ اسبابو دَ منع صرف نه یو پکښې علمیت
دے او بل پکښې تأنیث معنوی دے لهذا غیر منصرف دے تنوین او
کسره ورباندے نه راځی.

(۴) معرفه:۔ دَ معرفے د پاره شرط دا دے چه دا به عَلَم وی، لکه
زَیْنَبُ.
په دے کښې دوه سببه دی دَ اسبابو دَ منع صرف نه یو پکښې علمیت
دے او بل پکښې تأنیث معنوی دے. لهذا غیر منصرف دے تنوین او
کسره ورباندے نه راځی.

(۵) عُجمه:۔ هغه لفظ دے چه په اصل کښې عجمی وی، عربی نه
وی خو منتقل شوے وی دَ عجمئ نه عربئ ته. د دے د پاره شرط دا
دے چه دا به دَ دریو حروفو نه زیات وی. لکه: ابراهیم
او که چرے درے حرفه وی نو د دے د پاره شرط دا دے چه دا به
متحرك الاوسط وی. لکه: شَتَرَ.
چه دا دَ یو بے قلعے نوم دے نو اوس په دے کښې دوه سببه دی دَ
اسبابو دَ منع صرف نه یو پکښې علمیت دے او بل پکښې عُجمه ده
لهذا غیر منصرف دے تنوین او کسره ورباندے نه راځی.

(۶) جمع:۔ دلته دَ جمع نه مراد جمع منتهی الجموع ده او دَ جمع
منتهی الجموع د پاره علامت دا دے چه اوّلنے او دویم حرف به ئے
مفتوح وی او په دریم ځائے کښې به الف دَ جمع منتهی الجموع
راغلے وی. نو دَ الف جمع منتهی الجموع نه پس به یو حرف مشدد

نصبی تابع وی لکه:

جَآءَ عُمَرُ رَأَيْتُ عُمَرَ مَرَرْتُ بِعُمَرَ

(٦) اسمائے سته مکبره مضاف بغیر یائے متکلم:۔ شپږ

اسماء دی. لکه: اَبْ، اَخْ، حَمْ، هَنْ، فَمْ، ذُومَال.

مکبره چه مصغره نه وی. د دے اسماؤ بیا څلور حالته دی.

(۱) اسمائے سته مکبره چه مضاف وی بغیر دَ یاء دَ متکلم ته نو د دے اعـراب بـه بالحرف وی یعنی رفع به ئے په واؤ سره وی. نصب به ئے په الف سره وی، جر به ئے په یاء سره وی. لکه:

جَآءَ اَبُوْكَ رَأَيْتُ اَبَاكَ مَرَرْتُ بِاَبِيْكَ.

(۲) اسمائے سته مکبره چه مضاف وی یاء دَ متکلم ته نو د دے اعراب به په دریواړو حالتو کښې تقدیری وی. لکه:

جَآءَ اَبِی رَأَيْتُ اَبِی مَرَرْتُ بِاَبِی

(۳) اسمائے سته مکبره چه هیچاته مضاف نه وی نو د دے اعراب به دَ مفرد منصرف صحیح پشانتے وی یعنی رفع به ئے په ضمے سره وی. نصب به ئے په فتحے سره وی او جر به ئے په کسرے سره وی. لکه:

جَآءَ اَبٌ رَأَيْتُ اَبًا مَرَرْتُ بِاَبٍ

(۴) اسمـائـے سـتـه چـه کـلـه مصغره وی نو د دے اعراب به هم دَ مفرد منصرف صحیح پشانتے وی. لکه:

جَآءَ اُخَیٌّ رَأَيْتُ اُخَیًّا مَرَرْتُ بِاُخَیٍّ

(۷) مثنی:۔ لکه: رَجُلَان

تَغلِبُ دا دَ يو ے قبيلے نوم دے.

يَشكُرُ دَ سړی نوم دے.

نو دا هم په اصل کښې افعال دی خو اوس عَلم ګرځيدلی دی د چا د پار
نو په دے کښې دوه سببه دی دَ اسبابو دَ منع صرف نه يو پکښې
علميت دے او بل پکښې وزن فعل دے لهٰذا غير منصرف دے تنوين
او کسره ورباندے نه راځی.

(۹) الف نون زائد تان:- نه مطلب دا دے چه دَ اسم په آخر کښې الف
نون زائد تان راغلی وی که چرے دا الف نون زائد تان دَ اسم محضے پا
آخر کښې راغلی وی. نو د دے د پاره بيا شرط دا دے چه دا به عَلَم وی
لکه: عمران. نو اوس په دۀ کښې دوه سببه دی دَ اسبابو دَ منع صرف نه
يو پکښې علميت دے او بل پکښې الف نون زائد تان دی. لهٰذا غير
منصرف دے تنوين او کسره ورباندے نه راځی.

او که چرے الف نون زائد تان دَ اسم صفت په آخر کښې راغلی وی نو د
دے د پاره شرط دا دے چه د دے مؤنث به دَ فُعلانَةٌ په وزن باندے نه
راځی. لکه: سُکران. چه د دے مؤنث سُکریٰ راځی نو په دے کښې
دوه سببه دی. دَ اسبابو دَ منع صرف نه يو پکښې وصف دے او بل
پکښې الف نون زائد تان دی لهٰذا غير منصرف دے تنوين او کسره
ورباندے نه راځی.

عُريانٌ منصرف دے ځکه چه د دے مؤنث عُريَانَةٌ راځی.

اعراب دَ غير منصرف:- دا دے چه رفع به ئے په ضمے سره وی
نصب او جر به ئے په فتحے سره وی يعنی حالت جری به دَ حالت

(۸) کلا و کلتا مضاف بمضمر

(۹) اثنان واثنتان

د دے دریوارو اعراب یو شانتے دے.

رفع به ئے په الف سره وی، نصب او جر به ئے په یاء ماقبل مفتوح سره وی. لکه:

جَآءَ رَجُلَانِ	رَأَیْتُ رَجُلَیْنِ	مَرَرْتُ بِرَجُلَیْنِ
جَآءَ کِلَاهُمَا	رَأَیْتُ کِلَیْهِمَا	مَرَرْتُ بِکِلَیْهِمَا
جَآءَ اِثْنَانِ	رَأَیْتُ اِثْنَیْنِ	مَرَرْتُ بِاثْنَیْنِ

نوټ:۔ کِلا او کِلتا چه مضاف وی اسم ظاهر ته نو د دے اعراب به پ
دریوارو حالتو کښې تقدیری وی. لکه:

جَآءَ کِلَا الرَّجُلَیْنِ	رَأَیتُ کِلَا الرَّجُلَیْنِ.	مَرَرْتُ بِکِلَا الرَّجُلَیْنِ

(۱۰) جمع مذکر سالم:۔ لکه مُسْلِمُوْنَ.

(۱۱) اُولُو دا دَ ذو جمع ده بغیر دَ لفظ دَ ذُو نه.

(۱۲) عِشْرُوْنَ تا تِسْعُوْنَ.

د دے دریوارو اعراب یو شانتے دے.

رفع به ئے په واؤ ماقبل مضموم سره وی.

نصب او جر به ئے په یاء ما قبل مکسور سره وی. لکه؛

جَآءَ مُسْلِمُوْنَ	رَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ	مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ.
جَآءَ اُوْلُوْ مَالٍ	رَأَیْتُ اُوْلِیْ مَالٍ	مَرَرْتُ بِاُوْلِیْ مَالٍ
جَآءَ عِشْرُوْنَ رَجُلًا	رَأَیْتُ عِشْرِیْنَ رَجُلًا	مَرَرْتُ بِعِشْرِیْنَ رَجُلًا

(۱۳) **اسم مقصور:**۔ هغه اسم دے چه دد ے په آخر کښې الف
مقصوره غیر زائد راغلے وی. لکه موسیٰ.

(۱۴) **غیر جمع مذکر سالم مضاف بیائے متکلم:**۔ لکه غُلَامِیْ.
د دے دواړو اعراب یو شانتے دے. رفع به ئے په تقدیر دَ ضمے سره
وی. نصب به ئے په تقدیر دَ فتحے سره وی او جر به ئے په تقدیر دَ
کسرے سره وی. یعنی درېواړه حالته به ئے تقدیری وی. لکه:

جَآءَ مُوْسٰی رَأَیْتُ مُوْسٰی مَرَرْتُ بِمُوْسٰی.
جَآءَ غُلَامِیْ رَأَیْتُ غُلَامِیْ مَرَرْتُ بِغُلَامِیْ.

(۱۵) **اسم منقوص:**۔ هغه اسم دے چه دد ے په آخر کښې یاء ماقبل
مکسور وی، لکه قاضی.
اعراب:. رفع به ئے په تقدیر دَ ضمے سره وی، نصب به ئے په فتحے
لفظی سره وی. او جر به ئے په تقدیر دَ کسرے سره وی. لکه: جَآءَ
الْقَاضِیْ رَأَیْتُ الْقَاضِیَ مَرَرْتُ بِالْقَاضِیْ.

(۱۶) **جمع مذکر سالم مضاف بیائی متکلم:**۔ لکه مسلمِیَّ.
اعراب:۔ رفع به ئے په تقدیر دَ واؤ سره وی.
نصب او جر به ئے په یاء ماقبل مکسور سره وی. لکه:
هٰؤُلَآءِ مُسْلِمِیَّ رَأَیْتُ مُسْلِمِیَّ مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیَّ.
"مُسْلِمِیَّ" په اصل کښې "مُسْلِمُوْنَ" یَ وو. بیا چه کله دَ "مُسْلِمُوْنَ"
اضافت اوشو یاء دَ متکلم ته نو نون په اضافت سره اوغرځیدو نو
"مُسْلِمُوْیَ" شو. بیا قانون دا دے چه واؤ او یاء په یوه کلمه کښې

راشي (که حقیقتاً یوه کلمه وي او که حکماً یوه کلمه وي) او اول ساکن
وي نو واؤ به بدلیږي په یاء سره نو "مُسْلِمُيْيَ" شو. بیا مو یاء په یا
کښې مدغم کړه نو "مُسْلِمُيَّ" شو. بیا مو ضمه دَ میم بدله کړه په
کسرې سره ځکه چه یاء ماقبل کسره غواړي. نو "مُسْلِمِيَّ" ترینه جوړ شو.

فصل:۔ دَ فعل اعراب درے دي.(۱) رفع (۲) نصب (۳) جزم.

فعل مضارع په اعتبار دَ اقسامو دَ اعراب سره په څلور قسمه ده.

(۱) صحیح مجرد از ضمائر بارزه ثلاثه

(۲) مفرد معتل واوی و یائی.

(۳) مفرد معتل الفی.

(۴) صحیح یا معتل باضمائر ونون هائے مذکوره.

(۱) صحیح مجرد از ضمائر بارزۂ ثلاثه:۔ صحیح چه په آخر کښې
ئے حرف علت نه وي مجرد چه خالي وي. دَ دریو ښکاره ضمائرو نه. هغ
درے ضمائر دا دي. (۱)واؤ (۲)الف (۳)یاء.

واؤ:۔ ضمیر بارز دے په جمعو کښې. لکه: يَضْرِبُوْنَ، تَضْرِبُوْنَ.

الف:۔ ضمیر بارز دے په تثنیو کښې لکه: يَضْرِبَانِ، تَضْرِبَانِ،
تضربان، تضربان.

یاء:۔ ضمیر بارز دے په واحد مؤنث حاضر کښې..لکه: تَضْرِبِيْنَ.

یعنی چه دا دے اوو(۷) صیغو نه خالي وي. نو دا اووه صیغ
ترینه اووتلے. او دوه صیغے دَ جمع مؤنث یعنی يَضْرِبْنَ او تَضْرِبْنَ ترینه
اووتلے ځکه چه دا دوه صیغے مبني دي او دا بحث دَ معرب دے. نو باقي

پنځه صیغې پاتې شوې چه دا دَ ضمیر بارز نه خالي دي. لکه: "یَضْرِبُ، تَضْرِبُ، تَضْرِبُ، اَضْرِبُ، نَضْرِبُ". نو کتاب والا درته اوس د دې پنځو صیغو اعراب ښائي. چه رفع به ئې په ضمې سره وي. نصب به ئې په فتحې سره وي او جزم به ئې په سکون سره وي. لکه:

هُوَ یَضْرِبُ　　لَنْ یَّضْرِبَ　　لَمْ یَضْرِبْ

(۲) **مفرد معتل واوي و یائي:**۔ دَ مفرد نه مراد دغه پنځه صیغې دي واحد مذکر غائب، واحد مؤنث غائب، واحد مذکر حاضر، واحد ممتکلم، جمع متکلم، معتل واوي چه په آخر کښې ئې واؤ راغلې وي لکه: یَغْزُوْ. معتل یائي چه په آخر کښې ئې یاء راغلې وي، لکه: یَرْمِيْ.

اعراب:. رفع به ئې په تقدیر دَ ضمې سره وي، نصب به ئې په فتحې لفظي سره وي او جزم به ئې په حذف دَ لام کلمې سره وي. لکه:

هُوَ یَغْزُوْ　　لَنْ یَّغْزُوَ　　لَمْ یَغْزُ.

هُوَ یَرْمِيْ　　لَنْ یَّرْمِيَ　　لَمْ یَرْمِ

(۳) **مفرد معتل الفي:**۔ دَ مفرد نه مراد هغه پنځه صیغې دي. واحد مذکر غائب، واحد مؤنث غائب، واحد مذکر حاضر، واحد متکلم، جمع متکلم. معتل الفي چه په آخر کښې ئې الف راغلې وي. لکه: یرضیٰ.

اعراب:۔ رفع به ئې په تقدیر دَ ضمې سره وي. نصب به ئې په تقدیر دَ فتحې سره وي او جزم به ئې په حذف دَ لام کلمې سره وي. لکه: هُوَ یَرْضیٰ، لَنْ یَّرْضیٰ، لَمْ یَرْضَ.

﴿بحث عوامل﴾

فصل:۔ عوامل دَاعراب په دوه قسمه دی.(۱)لفظی (۲)معنوی

(۱) لفظی:۔ لفظی هغه عوامل دی چه په لفظ کښے ظاهرًا عمل کوی.عوامل لفظی بیاپه درے قسمه دی.

(۱)حروفِ عامله (۲)افعال عامِله (۳)اسمائے عامله.

دابه درته انشاء الله په دریوبابونو کښے بیان کړم.

﴿باب اوّل درحروفِ عامله﴾

باب اوّل دَحروفِ عاملوپه بیان کښے دے په دے کښے دوه فصله دی.فصل اوّل. فصل دوم.

فصل اوّل دَهغه حروف عاملو په بیان کښے دے چه په اسم کښے عمل کوی.

او**فصل دوم** دهغه حروفِ عاملو په بیان کښے دے چه په فعل مضارع کښے عمل کوی.

فصل اوّل د هغه حروفِ عاملو په بیان کښے دے چه په اسم کښے عمل کوی .نوداپه پنځه قسمه دی.

(۱)حروفِ جارّه (۲)حروفِ مشبه بالفعل(۳)ماولامشبهتان بلیس(۴)لائے نفی جنس(۵)حروف نداء.

(۱)حروفِ جاره:۔ هغه حروف دی چه په اسم باندے داخلیږی او دَ اسم آخر لره جر ورکوی.حروفِ جاره اوولس(۱۷) دی.شعر:

(۴) صحیح یا معتل باضمائر ونون هائے مذکوره:۔

صحیح چه په آخر کښې حرف علت نه وي. دَ معتل نه مراد معتل واوي، معتل یائی او معتل الفي دي. سره دَ ضمائرو او دَ نونونو مذکورو نه. یعنی هغه صیغے چه دَ هغے سره ضمائر او نونِ اعرابی وی نو دَ هغے صیغو اعراب درته ښائی. چه رفع به ئے په اثبات دَ نون سره وي.

لکه په تثنیه کښې به وائے:.

هُمَا يَضْرِبَانِ	يَغْزُوَانِ	يَرْمِيَانِ	يَرْضَيَانِ

او په جمع مذکر کښې به وائے:.

هُمْ يَضْرِبُوْنَ	يَغْزُوْنَ	يَرْمُوْنَ	يَرْضَوْنَ

او په واحد مؤنث حاضر کښې به وائے:.

اَنْتِ تَضْرِبِيْنَ	تَغْزِيْنَ	تَرْمِيْنَ	تَرْضَيْنَ.

نصب او جزم به ئے په حذف دَ نون سره وي. لکه په تثنیه کښې به وائے:.

لَنْ يَّضْرِبَا	لَنْ يَّغْزُوَا	لَنْ يَّرْمِيَا	لَنْ يَّرْضَيَا
لَمْ يَضْرِبَا	لَمْ يَغْزُوَا	لَمْ يَرْمِيَا	لَمْ يَرْضَيَا

او په جمع مذکر کښې به وائے:.

لَنْ يَّضْرِبُوْا	لَنْ يَّغْزُوْا	لَنْ يَّرْمُوْا	لَنْ يَّرْضَوْا.
لَمْ يَضْرِبُوْا	لَمْ يَغْزُوْا	لَمْ يَرْمُوْا	لَمْ يَرْضَوْا.

او په واحد مؤنث حاضر کښې به وائے:.

لَنْ تَضْرِبِيْ	لَنْ تَغْزِيْ	لَنْ تَرْمِيْ	لَنْ تَرْضَيْ.
لَمْ تَضْرِبِيْ	لَمْ تَغْزِيْ	لَمْ تَرْمِيْ	لَمْ تَرْضَيْ.

لَيتَ:۔ حرفِ تمنی دے دا دَ ممکن او ناممکن دواړو د پاره استعمالیږی. دَ ممکن مثال لکه: لَيتَ زَيدًا حَاضِرٌ. او دَ ناممکن مثال لکه: لَيتَ الشَّبَابَ يَعُودُ.

لَعَلَّ:۔ حرفِ ترجی دے دَممکن دپاره استعمالیږی او دَ ناممکن د پاره نه استعمالیږی. لَعَلَّ عمروًا غَائِب وئیلې شی خو لَعَلَّ الشَّبَابَ يَعُودُ نه شی وئیلې.

(۳) مَا و لا مشبّهتان بليس:۔ ماولامشابهه دی د لیس سره.

څه رنګه چه لیس دَ نفی د پاره راځی نو دغه رنګے ما و لا هم دَ نفی د پاره راځی څه رنګه چه لیس په مبتداء اوخبرباندے داخلیږی نودغه رنګے مَاولَا هم په مبتداء او خبر باندے داخلیږی.

څه رنګه چه لیس خپل اسم لره رفع اوخبر لره نصب ورکوی نو دغه رنګے ماولاهم خپل اسم لره رفع اوخبر لره نصب ورکوی.لکه: مَا زَيدٌ قَائِمًا ."زَيد" ته اسم د "مَا" وائی او "قائمًا" ته خبردماوائی.

"مَا" دَ حال دَ نفی د پاره راځی او "لَا" دَ مطلق نفی د پاره راځی لکه: "لَاصَدَّقَ وَلَاصَلّٰی" او"لَا" دَ مستقبل دَ نفی د پاره هم راځی لکه: "لَايَفعَلُ".

په مَا و لا کښې فرق:۔ دا دے چه مَا په معرفه اونکره دواړوباندې داخلیږی. دَ معرفې مثال لکه: مَازَيدٌ قَائِمًا .دَنکرې مثال لکه: مَا رَجلٌ قَائِمًا.

و "لَا" صرف په نکره باندې داخلیږی لکه: لَارَجلٌ قَائِمًا

(۴) لائے نفی جنس:۔ داسے "لَا" چه دَ جنس اسم نه دَخبر دَ نفی د پاره راځی.یعنی خبر نفی کوی دَ جنس اسم نه . د دے بیا څلور صورتونه دی.

بَــا وَتَـــا وَ کَـــاف و لَام وواوَ مُـنـذ ومُـذ خَلا

رُبَّ حَــاشَـــا ،مِـن،عَـدَا،فِـی ،عَـن،عَلٰی،حَتّٰی،اِلٰی

لکه اَلْمَالُ لِزَيْدٍ.

(۲)حروفِ مشبه بالفعل:۔ هغه حروف دی چه دفعل سره لفظاًاو معناً مشابه وی.

لفظاً، لکه په تعداد دَحروفو کښے دَ فعل سره مشابه وی لکه: اِنَّ او اَنَّ بروزن فِرَّ او فَرَّ کَاَنَّ او لَعَلَّ بروزن فَعَلْنَ. لٰكِنَّ بروزن ضَارِبُنَ.

اومعناً لکه: اِنَّ او اَنَّ په معنیٰ دحَقَّقْتُ سره. کَاَنَّ په معنیٰ د شَبَّهْتُ سره. لٰكِنَّ په معنیٰ د اِسْتَدْرَكْتُ سره. لَيْتَ په معنیٰ دَ تَمَنَّيْتُ سره. لَعَلَّ په معنیٰ دَ تَرَجَّيْتُ سره. حروف مشبّه بالفعل شپږ دی.

اِنَّ بااَنَّ کَاَنَّ لَيْتَ لٰكِنَّ لَعَلَّ ناصبِ اسمندورافع درخبر

عمل:۔ داحروف خپل اسم لره نصب ورکوی او خبر لره رفع ورکوی، لکه: اِنَّ زَيْدًاقَائِمٌ. زَيْدًا ته اسم د اِنَّ وائی. او "قَائِمٌ" ته خبر د "اِنَّ" وائی.

اِنَّ اواَنَّ:. دَ تحقیق د پاره راځی یعنی دَیوے خبرے دَ مضبوطولو د پاره راځی.لکه: "اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ، وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدً رَّسُوْلُ اللّٰهِ"

کَاَنَّ:. دتشبیه د پاره راځی یعنی دَیو څیز تشبیه ورکوی د بل څیز سره. لکه: "کَاَنَّ زَيْدًااَسَدٌ".

لٰكِنَّ:. د اِسْتَدْرَاك د پاره راځی .یعنی په ماقبل کلام کښے چه کوم ابهام وی نو دَهغے ابهام لرے کولو د پاره " لٰكِنَّ" راځی.لکه: " جَآءَ نِیْ زَيْدٌ لٰكِنَّ عَمْرٌوغَائِبٌ".

دا حروف نکره غیر معین لره هم نصب ورکوی. کله چه ړوند سړے اووائی

لکه: يَا رَجُلاً خُذْبِيَدِی.

که چرے منادٰی مفرد معرفه وی نو دا به مبنی وی په علامت دَرفع سره لکه

"يَازَيْدُ، يَازَيْدَانِ، يَامُسْلِمُوْنَ، يَامُوسٰی، يَاقَاضِی، اَیْ او همزهٔ مفتوحه" دَ نزدے

د پاره راځی. "اَيَا" او"هَيَا" دَ لرے د پاره راځی. او "يَا" عامه ده يعنی دَنزدے

اودَلرے دواړو د پاره راځی .

فصل دوم:۔ فصل دوم دَهغه حروف عاملو په بيان کښی دے چه په

فعل مضارع کښې عمل کوی. دا بيا په دوه قسمه دے.

قسم اول دهغے حروف عاملو په بيان کښے دے چه فعل مضارع لره

نصب ورکوی.

قسم دوم دَهغے حروفِ عاملوپه بيان کښی دے چه فعل مضارع لره

جزم ورکوی.

قسم اول دَهغے حروف عاملوپه بيان کښی دے چه فعل مضارع لره نصب

ورکوی. نو داځلور حروف دی. "اَنْ، لَنْ، کَیْ، اِذَنْ"

(۱) اَنْ:۔ چه په مضارع باندے داخل شی نو مضارع لره نصب ورکوی او

مضارع په معنٰی دَ مصدرسره ګرځوی نو ددے وجهے نه دے اَنْ. ته اَنْ

مصدريه هم وائی. لکه: اُرِيْدُاَنْ تَقُوْمَ اَیْ اُرِيْدُ قِيَامَكَ.

(۲) لَنْ:۔ چه په فعل مضارع باندے داخل شی نومضارع لره نصب

ورکوی او مضارع په معنٰی دمستقبل منفی تاکيد سره ګرځوی. لکه: لَنْ

يَّخْرُجَ زَيْدٌ.

(۱) دَ لائے نفی جنس اسم به اکثر مضاف او منصوب وی او خبر به ئے مرفوع وی لکه: لَاغُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ.

(۲) که دَ لائے نفی جنس اسم نکره مفرده وی یعنی مضاف نه وی نودابه مبنی وی په فتحے سره لکه: لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ.

(۳) که دَلائے نفی جنس نه پس معرفه وی نودَ یو بلے معرفے سره به دَ لَا تکرار ضروری وی خودلته به لا ملغٰی عن العمل وی یعنی عمل به نه کوی او معرفه به مرفوع وی دَ ابتداء دَ وجهے نه .لکه: لَازَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَاعَمْرٌو.

(۴) که دَ لائے نفی جنس نه پس نکره مفرده وی او په دے باندے عطف وی دَ یوے بلے نکرے مفردے چه په هغے باندے لائے نفی جنس داخل وی .نوداسے عبارت په پنځو طریقوسره لوستل جائز دی.

وَ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ.

وَ لَاحَوْلٌ وَلَاقُوَّةٌ اِلَّا بِاللّٰهِ.

وَ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةٌ اِلَّا بِاللّٰهِ.

وَ لَاحَوْلٌ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ.

وَ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةً اِلَّا بِاللّٰهِ.

(۶)**حروف نداء:**۔ هغه حروف دی چه دذے په ذریعه باندے چاته آواز اوکړے.حروف نداء پنځه دی:یا،ایا،هیا،ای،اوهمزه مفتوحه

دا حروف منادی مضاف لره نصب ورکوی.لکه: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ، يَاعَبْدَ اللهِ

دا حروف مشابهه دَمضاف لره هم نصب ورکوی.لکه يَا طَالِعًاجَبَلاً.

خیز داخل وی نو په معطوف باندے هغه شے داخلیدو نه منع لکه لا تاکل السمك وتشرب اللبن.

ا:۔ چه کله د شپږو څیزونو په جواب کښې واقع شی نو د دے نه پس مقدر وی او فعل مضارع لره به نصب ورکوی.

امر:۔ فا چه کله د امر په جواب کښې واقع شی نو د دے نه پس به أن قدروی او فعل مضارع لره به نصب ورکوی. لکه: زُرْنِیْ فَاُکْرِمَكَ.

) نهی:۔ فا چه کله د نهی په جواب کښې واقع شی نو د دے نه پس به مقدر وی او فعل مضارع لره به نصب ورکوی. لکه: لَا تَشْتِمْنِیْ فَاُهِیْنَكَ.

(۳) نفی:۔ فا چه کله د نفی په جواب کښې واقع شی نو د دے نه پس به أن مقدر وی او فعل مضارع لره به نصب ورکوی. لکه: مَا تَاْتِیْنَا فَتُحَدِّثَنَا.

(۴) استفهام:۔ فاء چه کله داستفهام په جواب کښې راشی نو د دے نه پس به أنْ مقدر وی او فعل مضارع لره به نصب ورکوی. لکه: اَیْنَ بَیْتُكَ فَاَزُوْرَكَ.

(۵) تمنی:۔ فاء چه کله د تمنی په جواب کښې راشی نو د دے نه پس به أن مقدر وی او فعل مضارع لره به نصب ورکوی. لکه: لَیْتَ لِیْ مَالًا فَاُنْفِقَ مِنْهُ.

(۶) عرض:۔ فاء چه کله دَعرض په جواب کښې راشی نو د دے نه پس

(۳) کَئ:۔ چه په فعل مضارع باندے داخل شی نو مضارع لره نصب ورکوی او دَ کئی ماقبل به دَ مابعد د پاره سبب وی. لکه: اَسْلَمْتُ کَیْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ.

(۴) اِذَنْ:۔ چه په فعل مضارع باندے داخل شی نو مضارع لره نصب ورکوی اودا دَ یوے خبرے په جواب کښی واقع کیږی. لکه "اَنَا اٰتِیْكَ غَدًا" په جواب کښی "اِذَنْ اُکْرِمَكَ" راځی دَ شپږو څیزونو نه پس به "اَن" مقدر وی. هغه شپږ څیزونه دا دی:۔

(۱) حتّی (۲) لام جحد (۳) اَو (۴) لام کئی (۵) واؤ صرف (٦) فا.

(۱) حتّی:۔ دَحتی نه پس به ان مقدروی اوفعل مضارع لره به نصب ورکوی. لکه: مَرَرْتُ حَتّٰی اَدْخُلَ الْبَلَدَ..

(۲) لام جحد:۔ هغه لام دے چه د کان منفی سره استعمالیږی اودا صرف د نفی د تاکید د پاره راځی نو د دے نه پس به اَنْ مقدر وی او فعل مضارع لره به نصب ورکوی او که دا لام جحد دَ عبارت نه حذف شی نو په معنی کښی څه فرق نه راځی. لکه: مَاکَانَ اللّٰهُ لِیُعَذِّبَهُمْ.

(۳) اَو:۔ چه په معنی دَ "اِلٰی" یا "اِلَّا" سره وی نو د دے نه پس به اَنْ مقدر وی اوفعل مضارع لره به نصب ورکوی. لکه: لَاَلْزَمَنَّكَ اَوتُعْطِیَنِیْ حَقِّیْ.

(۴) لام کئ:۔ د دے ماقبل به دَ مابعد د پاره سبب وی. د دے نه پس به اَنْ مقدر وی او فعل مضارع لره به نصب ورکوی. لکه: اَسْلَمْتُ لِاَدْخُلَ الْجَنَّةَ.

(۵) واؤ صرف:۔ هغه واؤ عاطفه دے چه په معطوف علیه باندے

به ان مقدر وی او فعل مضارع لره به نصب ورکوی.لکه: اَلاتَنزِلُ بِنَا فَتصِیبَ خَیرًا.

قسم دوم:۔ د هغه حروفِ عاملو په بیان کښی دے چه فعل مضارع لره جزم ورکوی. دا پنځه حروف دی: (۱)لَمْ، (۲)لَمَّا، (۳)لام امر، (۴)لائے نهی، (۵)اِنْ شرطِیّه. لکه: لَمْ یَنصُرْ، لَمَّایَنصُرْ، لِیَنصُرْ، لَاتَنصُرْ، اِنْ تَنصُر، اَنصُرْ.

اِن په دوؤ(۲) جملو باندے داخلیږی اوّلنئ جملے ته شرط وائی او دویمے جملے ته جزاء وائی.

اِن دَ مستقبل د پاره راځی اګر که په ماضی باندے داخل شی یعنی دَ ماضی معنیٰ مستقبل ته ګرځوی.لکه: "اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ" خو دلته به جزم تقدیری وی ځکه چه ماضی معرب نه ده بلکه مبنی ده.

کله چه جزا دَ شرط جمله اسمیه وی یا امر وی یا نهی وی .یاجمله دُعائیه وی نو په جزاء باندے فاء داخلول به لازم وی. دَ جملے اسمیے مثال لکه: "اِنْ تَاْتِنِیْ فَاَنْتَ مُکْرَمٌ" د امر مثال لکه"وَاِنْ رَاَیْتَ زَیْدًا فَاَکْرِمْهُ" دَ نهی مثال لکه: اِنْ اَتَاكَ عَمْرٌو فَلاَ تُهِنْهُ.د جملے دُعائیے مثال لکه "اِنْ اَکْرَمْتَنِیْ فَجَزَاكَ اللّٰهُ خَیْرًا"

❁❁❁❁❁

باب دوم درافعالِ عامله

دویم باب دَافعال عاملو په بیان کښی دے.

هیڅ یو فعل بـه غیر عامل نه وی دَ عمل په لحاظ سره افعال په دوه قسمه دی. (۱)معروف، (۲) مجهول

(۱) **معروف:** فعل معروف که لازمی وی اوکه متعدی وی خپل فاعل لره به رفع ورکوی.لکه: قَامَ زَيْدٌ۔ ضَرَبَ عَمْرٌو.

فعل معروف کـه لازمی وی اوکـه متعدی وی شپږواسمونولره به نصب ورکوی.

(۱) مفعول مطلق لره بـه نصب ورکوی لکـه: قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا، ضَرَبَ زَيْدٌضَرْبًا.

(۲) مفعول فیه لره به نصب ورکوی.لکه: صُمْتُ يَوْمَ الْجُمعَةِ، وَجَلَسْتُ فَوْقَكَ.

(۳) مفعول معه لره به نصب ورکوی.لکه: جَآءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ ای مَعَ الْجُبَّاتِ.

(۴) مفعول له لره به نصب ورکوی.لکه: قُمْتُ اِكْرَامًا لِزَيْدٍ، ضَرَبْتُهُ تَاْدِيبًا.

(۵) حال لره به نصب ورکوی. لکه: جَآءَ زَيْدٌ رَاكِبًا.

(۶) تمیزلره به نصب ورکوی په هغه وخت کښی چه دَ فعل او دَ فاعل په مینځ کښی ابهام وی .نـو دَهغـے ابهام لرے کولو دپاره.تمیز راځی لکه: طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا.

فعل متعدی مفعول به لره نصب ورکوی لکه ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا او

دا عمل دَ فعل لازم نه نهٔ راځی ځکه چه دَ فعل لازم نه مفعول به نه راځی.

نوټ:۔ فعل لازم خپل فاعل لره رفع او شپږو(۶) اسمونولره نصب ورکوی.

اوفعل متعدی خپل فاعل لره رفع او اوؤ(۷) اسمونو لره نصب ورکوی.

فصل: فاعل:۔ هغه اسم دے چه ددے نه محکښے فعل وی او ددے

فعل نسبت دے فاعل ته شوے وی په داسے طریقه سره چه دافعل په دهٔ

سره قائم وی لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ.

مفعول مطلق:۔ هغه مصدر دے چه دَفعل نه پس واقع وی.او دَ فعل

په معنیٰ باندے وی.لکه: ضَرَبْتُ ضَرْبًا، قُمْتُ قِيَامًا.

مفعول فيه:۔ هغه اسم دے چه فعل سابق په دهٔ کښے واقع وی دے ته

ظرف هم وائی.ظرف بیاپه دوه قسمه دے. (۱) ظرف زمان، (۲)ظرف مکان

ظرف زمان:۔ چه یوفعل په یوه زمانه کښی واقع وی. لکه: صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

ظرف مکان:۔ چه یوفعل په یومکان کښی واقع وی. لکه: جَلَسْتُ عِنْدَكَ

مفعول معه:۔ هغه اسم دے چه دداسے واؤ نه پس واقع وی. چه هغه

واؤ په معنیٰ دمع سره وی. لکه: جَآءَ الْبُرْدُ وَالْجُبَّاتِ ای مَعَ الْجُبَّاتِ.

مفعول له:۔ هغه اسم دے چه دماقبل فعل سبب بیانوی. لکه: قُمْتُ

إِكْرَامًا لِزَيْدٍ.

حال:۔ هغه اسم نکره ده چه دَفاعل حالت بیانوی. لکه: جَآءَ زَيْدٌ رَاكِبًا.

یا حال هغه اسم نکره ده چه مفعول حالت بیانوی. لکه: ضَرَبْتُ زَیْدًا مَشْدُوْدًا

یا حال هغه اسم نکره ده چه دَفاعل اودَمفعول دواړو حالت بیانوی. لکه: لَقِیْتُ زَیْدًا رَاکِبَیْنِ.

فاعل او مفعول ته ذوالحال وائی او ذوالحال به اکثر معرفه وی که چرے ذوالحال نکره وی نو حال به په ذوالحال باندے مقدم وی. لکه: جَآءَنِیْ رَاکِبًا رَّجُلٌ.

حال کله کله جمله هم واقع کیږی. لکه: رَأَیْتُ الْاَمِیْرَ وَ هُوَ رَاکِبٌ.

تمیز:۔ هغه اسم دے چه دَعددنه ابهام پورته کوی یا لرے کوی. لکه: عِنْدِیْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا.

یا تمیز هغه اسم دے چه دَوزن نه ابهام لرے کوی. لکه: عِنْدِیْ رِطْلٌ زَیْتًا.

یا تمیز هغه اسم دے چه دَ کیل نه ابهام لرے کوی. لکه: عِنْدِیْ قَفِیْزَانِ بُرًّا.

یا تمیز هغه اسم دے چه دَ مساخت نه ابهام لرے کوی. لکه: مَافِی السَّمَآءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا.

مفعول به:۔ هغه اسم دے چه فعل دَفاعل په دهٔ باندے واقع وی. لکه: ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًوا.

دا تمام منصوبات دَ جملے تمامیدو نه پس واقع کیږی.

جمله په فعل اوفاعل باندے تمامیږی. ددے وجهے نه عرب وائی چه "اَلْمَنْصُوْبُ فَضْلَةٌ". یعنی مَنْصوبات زائد دی.

فصل:۔ فاعل په دوه قسمه دے: (۱) مظهر، (۲) مضمر.

(۱) مظهر:۔ چه فاعل ظاهر وی لکه: ضَرَبَ زَیْدٌ.

(۲) **مضمر:۔** چه فاعل ضمیر وی خو مضمر بیا په دوه قسمه دے.

(۱) بارز، (۲) مستتر

(۱) **بارز:۔** چه ضمیر ښکاره وی یعنی ظاهر وی لکه ضَرَبْتُ. نو په دے کښے "تُ" ضمیر ظاهر دے.

(۲) **مستتر:۔** چه ضمیر پټ وی .لکه: زَيْدٌ ضَرَبَ.

نو په ضَرَبَ کښے هو ضمیر مستتر دے او فاعل دے د ضَرَبَ د پاره بیا مستتر په دوه قسمه دے. (۱) واجب الاستتار، (۲) جائز الاستتار

(۱) **واجب الاستتار:۔** هغه ضمیر دے چه دَهغه پټول ضروری دی.دَ حاضر په صیغو کښے او دَ متکلم په صیغو کښے ضمیر واجب الاستتار دے.

(۲) **جائز الاستتار:۔** هغه ضمیر دے چه دَهغه پټول جائز دی. په غائب، غائبه اوپه صفاتو کښی ضمیرجائز الاستتار دے.

بدانکه:۔ کله چه فاعل مؤنث حقیقی وی یا ضمیر د مؤنث وی نو په فعل کښی علامت دَ تانیث راوړل به لازمی وی.لکه: قَامَتْ هِنْدٌ او هِنْدٌقَامَتْ اَیْ هِیَ.

نو په دے قامت کښی هِیَ ضمیر مستتر دے چه فاعل دے دَ فعل د پاره. او که چرے فاعل مؤنث غیر حقیقی وی یا فاعل جمع تکسیر وی نو فعل مذکر او مؤنث دواړه راوړل جائز دی. لکه: طَلَعَ الشَّمْسُ، طَلَعَتِ الشَّمْسُ. قَالَ الرِّجَالُ، قَالَتِ الرِّجَالُ.

قسم دوم: مجهول:۔ فعل مجهول په ځائے دفاعل باندے مفعول به لره رفع ورکوی. او باقیو لره نصب ورکوی. لکه: ضُرِبَ زَیْدٌ یَوْمَ الْجُمُعَةِ اَمَامَ الْاَمِیْرِ ضَرْبًا شَدِیْدًا فِیْ دَارِهٖ تَادِیْبًا وَالْخَشَبَةَ.

فعل مجهول ته فعل مالم یُسَمَّ فَاعِلُهٗ وائی یعنی داسے فعل چه دهغے فاعل معلوم نه وی.

او دے مرفوع ته یعنی زَیْدٌ ته مفعول مَا لَمْ یُسَمَّ فَاعِلُهٗ وائی یعنی داسے مفعول چه دَهغے فاعل معلوم نه وی.

فصل:۔ فعل متعدی په څلورقسمه دے .

(۱) فعل متعدی بیك مفعول (۲) فعل متعدی بدو مفعول (۳) فعل متعدی بدو مفعول (۴) فعل متعدی بسه مفعول.

(۱) فعل متعدی بیک مفعول:۔

داسے فعلِ متعدی چه یو مفعول به غواړی. لکه: ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًوا

(۲) فعل متعدی بدو مفعول:۔

داسے فعل متعدی چه دوه مفعوله غواړي. خو په دے کښې یو مفعول حذف کول جائز دی او اقتصار په یو مفعول باندے جائز دے. لکه "اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا". نو په دے کښې "اَعْطَیْتُ زَیْدًا" هم جائز دے او "اَعْطَیْتُ دِرْهَمًا" هم جائز دے.

(۳) فعل متعدی بدو مفعول:۔

داسے فعل متعدی چه دوه مفعوله غواړی خو په دے کښې اقتصار

په یو مفعول باندے جائز نه دے او دا په افعال قلوب کښې راځي.لکه:
عَلِمۡتُ، ظَنَنۡتُ، حَسِبۡتُ، خِلۡتُ، زَعَمۡتُ، رَأَیۡتُ، وَجَدۡتُ.

په دے کښې " عَلِمۡتُ، رَأَیۡتُ او وَجَدۡتُ" دَ یقین د پاره راځي.لکه: " عَلِمۡتُ زَیۡدًا فَاضِلًا."

او په دے کښې "ظَنَنۡتُ، حَسِبۡتُ او خِلۡتُ" دَ گمان د پاره راځي لکه: "ظَنَنۡتُ زَیۡدًا عَالِمًا."

اوپه دے کښې " زَعَمۡتُ" دَ یقین او دَ گمان دواړو د پاره راځي یعنی کله دَ یقین د پاره راځي .لکه: "زَعَمۡتُ اللّٰهَ رَحِیۡمًا." او کله دَ گمان د پاره راځي لکه: "زَعَمۡتُ زَیۡدًا نَائِمًا."

(۴) فعل متعدی بسه مفعول:۔

داسے فعل متعدی چه درے مفعوله غواړي.لکه: "اَعۡلَمَ، اَرٰی، اَنۡبَاءَ، اَخۡبَرَ، خبّر، نَبَّأَ، حَدَّثَ" لکه: "اَعۡلَمَ اللّٰهُ زَیۡدًا عَمۡرًوا فَاضِلًا."

بدانکه:۔ دا تمام مفعولات مفعول به دي. د باب د عَلِمۡتُ دویم مفعول چه فَاضِلًا دے. او دَ باب دَ اَعۡلَمۡتُ دریم مفعول چه هغه هم فَاضِلًا دے. اومفعول له او مفعول معه په ځائے دَ فاعل باندے نه واقع کیږي.یعنی نائب فاعل نه واقع کیږي. او باقي نائب فاعل واقع کیږي. او په باب دَ اَعۡطَیۡتُ کښې مفعول اول نائب فاعل جوړول زیات بهتر دي په نسبت دَ دویم مفعول سره. ځکه چه په زید کښې د اخذ ماده موندلے شي یعنی دَ اغستو ماده پکښې موندے شي.

نوټ:۔ دَ باب د علمت دویم مفعول چه فاضلًا دے. نائب فاعل نه واقع

کیږی ځکـه چـه دا د افعال قلوبو دَ داخلیدو نه مخکښې مسند وو. او زیدٌ مسند الیه وو لکه "زیدٌ فاضلٌ" او چـه کله په دے باندے افعال قلوب داخل شو نو دا دواړه مفعولین اوګرځیدل.لکه "عَلِمْتُ زَیْدًا فَاضِلًا" نو اوس په دے کښې اوّلـنـے مـفـعـول نائب فاعل جوړیږی.لکه "عُـلِمَ زَیْدٌ فَاضِلًا" وئیلے شی. خو دویم مفعول نائب فاعل نه جوړیږی لکه "عُلِمَ فَاضِلٌ زَیْدًا" نشی وئیلې. ځکه چه "فَاضِلًا" مخکښې مسند وو او س مسند الیه واقع شو.نو لهذا یوشے مسند اومسندالیه نه واقع کیږی.ځکه چه دا اجتماع د نقیضینو ده.

دغـه رنګـے دَ باب د اَعْلَمْتُ دریم مفعول هم دے .مفعول له منصوب هم نـائـب فـاعـل نـه واقـع کیـږی ځـکـه چـه معنیٰ ئے غلطه راځی .لکه "ضَرَبْتُهٗ تَاْدِیْبًا" کښې "ضُرِبَ تَأْدِیْبٌ" نشی وئیلے.

البتـه مـعـفـول لـه مـجـرور. نائب فاعل واقع کیږی لکه "ضُـرِبَ لِلتَّأْدِیْبِ".

مفعول معه هم نائب فاعل نه واقع کیږی. ځکه چه مفعول معه خو د واؤ نه پس واقع وی. نوکه دَواؤ سره نائب فاعل جوړ کړې لکه "جِیئَ وَالْجُبَّاتُ" نو دا صحیح نه دے ځکه چه دَ فعل او فاعل په مینځ کښې شدت اتصال وی. او د دوئ په مینـځ کښـې دے واؤ انـفـصـال راوستو نو لهٰذا دَ واؤ سره نائب فاعل نه واقع کیږی.اوکه واؤ ترینه لرے کړے لکه "جِیئَ الْجُبَّاتُ".

نـو بیـا پـه دے کښـې مـفـعـول معه نه معلومیږی. ځکه چه مفعول معـه د واؤ نـه پـس واقـع وی. او پـه دے کښې خو واؤ نشتـه دے نو لهذا مفعول معه نائب فاعل نه واقع کیږی.

ودیگر هاراشاید:۔ او د دغـه نـه علاوه نور نائب فاعل واقع کیږی.لکه مفعول مطلق اومفعول فیه شو.

دَ مفعول مطلق مثال لکه: " سِیرَ سَیرٌ شَدِیدٌ ". یعنی تلل اوکړے شو په تللو سختو سره.

اودَمفعول فیه مثال لکه: "ضُرِبَ یَوْمُ الْجُمُعَةِ". یعنی اووهلے شو په ورځ دَجمعے.

فصل:۔ افعال ناقصه اولس دی: کَانَ، صَارَ، ظَلَّ، بَاتَ، اَصْبَحَ، اَضْحٰی، اَمْسٰی، عَادَ، اٰضَ، غَدَا، رَاحَ، مَازَالَ، مَاانْفَكَّ، مَابَرِحَ، مَافَتِئَ، مَادَامَ، لَیْسَ.

لکه: کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا، صَارَزَیْدٌفَقِیْرًا، ظَلَّ زَیْدٌصَائِمًا، بَاتَ زَیْدٌ نَائِمًا، اَصْبَحَ زَیْدٌ فَقِیْرًا، اَضْحٰی زَیْدٌ اَمِیْرًا، اَمْسٰی زَیْدٌ قَارِئًا.

عَادَ، اٰضَ، غَدَا، رَاحَ، د دے څلورو افعالو دوه حالته دي که چرے دَ افعال ناقصو په صورت کښې وی نو دا به بیا د "صَارَ" په معنیٰ باندے وی .لکه "عَادَ زَیْدٌ غَنِیًّا اَیْ صَارَ زَیْدٌغَنِیًّا، اٰضَ زَیْدٌ فَقِیْرًا، غَدَازَیْدٌ کَاتِبًا، رَاحَ زَیْدٌ شَاعِرًا.

اوکه چرے دَ افعال تامو په صورت کښې وی نو دا به بیا په خپله معنیٰ باندے وی لکه "عَادَ" معنیٰ اوګرځیدو. اٰضَ معنیٰ واپس شو. غَدَامعنیٰ ده د صبا په وخت کښې لاړو. رَاحَ معنیٰ ده د ماښام په وخت کښې لاړو.

مَازَالَ زَیْدٌ غَنِیًّا، مَاانْفَكَّ بَکْرٌعَاقِلًا، مَا بَرِحَ زَیْدٌ صَائِمًا، مَافَتِئَ عَمْرٌوغَنِیًّا، اِجْلِسْ مَادَامَ زَیْدٌ جَالِسًا، لَیْسَ زَیْدٌ قَائِمًا.

افعال ناقصو ته افعال ناقصه ځکه وائی چه دا یوائځے په فاعل باندے نه تمامیږی بلکه خبرته هم محتاج وی. نو د دے وجهے نه دے ته افعال ناقصه وائی. افعال ناقصه په جمله اسمیه باندے داخلیږی مسندالیه لره رفع او مسند لره نصب ورکوی.لکه: "کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا". نو په دے کښې

"زَیْدٌ" تـه اسم د "کَانَ" وائی او "قَائِمًا" ته خبر د "کَانَ" وائی. او باقی په دے بانـدے قیاس کړه.

بعض د دے افعالو نه په بعض احوالو کښې صرف په فاعل بانـدے تمامیږی خبر ته ئے ضرورت نه وی. نو په دے وخت کښې به دے افعالو نه افعـال تامه وائی .لکه: " کَانَ مَطَرٌ". یعنـی باران حاصل شو. یعنـے باران اوشو. نو اوس دے "کَانَ" تـه "کان تامـه" وائی. ځکه چه صرف په فاعل باندے تمام شو.

کان کـلـه کله زائد هم راځی د زائد مطلب دا دے چه د کلام نه ئے حذف کړے نودعبارت پـه معنیٰ کښې څه فرق نه راځی.البته په حُسن دَ کلام کښې فرق راځی لکه "کَیْفَ نُکَلِّمُ مَنْ کَانَ فِی الْمَهْدِ صَبِیًّا".

فصل: بدانکه:۔ (افعال مقاربه)

افـعـال مـقـاربـه څـلـور دی: (۱)عَسَیٰ (۲)کَادَ (۳)کَرَبَ (۴)أَوْشَكَ.

افعال مقاربه په دے خبره باندے دلالت کوی چه دد دے دَخبر حصول د اسم دپاره قریب دے.حصول دَ خبر د اسم د پاره په درے قسمه دے.

(۱)چه د متکلم دا اُمید وی چه د خبر حصول د اسم د پاره قریب دے نو د دے د پاره "عَسیٰ" راځی. لکه: "عَسَیٰ زَیْدٌ اَنْ یَّخْرُجَ".

(۲)چـه د متـکـلـم دا یقین او جزم وی چه دَ خبر حصول د اسم د پاره قریب دے نو د دے د پاره کَادَ راځی. لکه: "کَادَ زَیْدٌ اَنْ یَّخْرُجَ".

(۳)چـه د متـکـلم دا یقین وی چه د دے فاعل د خبر حاصلول شروع کړۀ. نو د دے د پاره "کَرَبَ" او "اَوْشَكَ" راځی. لکه: "کَرَبَ زَیْدٌ یَخْرُجُ".

CS CamScanner

دَا افعال په جمله اسمیه باندے داخلیږی.د "کَانَ" پشانتے خپل اسم لره رفع او خبر لره نصب ورکوی. مګر دومره خبره ده چه د دے خبر به د فعل مضارع "اَنْ" سره وی. لکه: "عَسَىٰ زَیْدٌ اَنْ یَّخْرُجَ".

یابه د دے خبر بغیر د "اَنْ" نه وی لکه " عَسَىٰ زَیْدٌ یَّخْرُجُ " اوکله به فعل مضارع سره د "اَنْ" نه په محل د رفع کښے په معنیٰ د مصدر سره دَ "عسیٰ" د پاره فاعل وی. او خبر ته به ئے ضرورت نه وی نو په دے وخت کښی به دے "عَسَىٰ" ته "عَسَىٰ تَامَه" وائی لکه: "عَسَىٰ اَنْ یَّخْرُجَ زَیْدٌ".

فصل:۔ افعال مدح و ذم۔

(۱) افعال مدح:۔ هغه افعال دی چه د دے په ذریعه باندے دَ چاښه والے بیان کړے. لکه: "نِعْمَ اوحَبَّذَا".

(۲)افعال ذم:۔ هغه افعال دی چه د دے په ذریعه باندے د چا بد والے بیان کړے. لکه: "بِئْسَ اوسَآءَ".

د افعال مدح د فاعل نه پس چه کوم څیز راځی نو هغے ته مخصوص بالمدح وائی.

او د افعال ذم د فاعل نه پس چه کوم څیز راځی نو هغے ته مخصوص بالذم وائی.

دَ "حَبَّذَا" نه علاوه د دے د فاعل د پاره شرط دا دے.

چه د دے فاعل به معرّف باللام وی. لکه: "نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ".

یا به د دے فاعل معرف باللام طرفته مضاف وی. لکه: "نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ".

یا به د دے فاعل مبهم وی او په "نِعْمَ" کښی به مستتر وی او د دے ابهام د لرے کولو د پاره به تمیز منصوب راځی. لکه "نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ" په "نِعْمَ"

کښې هو ضمیر مستتر دي چه فاعل دے د "نِعْمَ" د پاره او "رجلًا" ئې
تمیز دے.
او په "حَبَّذَا زَيْدٌ" کښې حَبَّ فعل مدح دے "ذَا" به د دے همیشه فاعل
وی. او "زَيْدٌ" مخصوص بالمدح دے. دغه شان ته بِئْسَ او سَآءَ هم دی.
لکه: "بِئْسَ الرَّجُلُ زَيْدٌ. اوسَآءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو".

فصل: افعال تعجب۔

د تعجب لغوی معنیٰ خیرانتیا.
او په اصطلاح کښې تعجب دے ته وائی چه دکوم یو خیز سبب پټ
وی او دَهغے دظاهرولو دپاره په زړه کښې کوم کیفیت اوکوم حالت پیداشی
نو دے ته تعجب وائی. دثلاثی مجرد دَ هر مصدر نه د فعل تعجب دوه
صیغے راځی لکه مَااَفْعَلَهٗ وَ اَفْعِلْ بِهٖ.

(۱) **مَااَفْعَلَهٗ:**. لکه "مَااَحْسَنَ زَيْدًا" دلته ماپه معنیٰ د "اَیُّ شَیْءٍ" دے
نوعبارت داسے شو چه "اَیُّ شَیْءٍ اَحْسَنَ زَيْدًا".
ترکیب:۔ "اَیُّ" مضاف. "شَیْءٍ" مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه
نه په محل د رفع کښې مبتدا شوه. اَحْسَنَ فعل.
هُو ضمیر په کښې مستتر دے هغه ئے فاعل دے.
زَيْدًا مفعول به دے. فعل سره دفاعل اودمفعول به نه جمله فعلیه خبریه په
په محل د رفع کښې خبر شو د مبتدا د پاره. مبتدا سره د خبر نه جمله
اسمیه خبریه شوه.
(۲) **اَفْعِلْ بِهٖ:**. لکه اَحْسِنْ بِزَيْدٍ. اَحْسِنْ صیغه د امر ده په معنیٰ د فعل

ماضي سره راځي. "با" په کښې زائد ده .نو عبارت به داسے شي چه اَحۡسَنَ زَيۡدٌ.
او اَحۡسَنَ زَيۡدٌ به معنیٰ د "صَارَ ذَاحُسۡنٍ" شو.
يعنې زيد خاوند د حُسن اوګرځيدو.

﴿باب سوم در اسمائے عاملہ﴾

باب سوم د اسمائے عاملو په بيان کښې دے دا په يوولس(۱۱) قسمه دے.

(۱)اسمائے شرطیه:۔ داسے اسماء چه په معنیٰ د اِنۡ شرطيه باندے راځي .څرنګه چه اِنۡ په شرط اوجزاء باندے داخليږي.
دغه رنګے دا اسماء هم په شرط اوجزاء باندے داخليږي اوڅه رنګه چه اِنۡ فعل مضارع لره جزم ورکوي نو دغه رنګے دا اسماء هم فعل مضارع لره جزم ورکوي.اسمائے شرطيه نهه دي: مَنۡ وَمَا مَهۡمَا وَاَيٌّ حَيۡثُمَا اِذۡ مَا مَتٰی اَيۡنَمَا اَنّٰی نه اسم جازمند مرفعل را....لکه:

مَن تَضۡرِبۡ اَضۡرِبۡ، مَاتَفۡعَلۡ اَفۡعَلۡ

اَيۡنَ تَجۡلِسۡ اَجۡلِسۡ مَتیٰ تَقُمۡ اَقُمۡ.

اَیُّ شَیۡءٍ تَأۡکُلۡ اٰکُلۡ، اَنّٰی تَکۡتُبۡ اَکۡتُبۡ.

اِذَامَا تُسَافِرۡ اُسَافِرۡ، حَيۡثُمَاتَقۡصِدۡ اَقۡصِدۡ.

مَهۡمَاتَقۡعُدۡ اَقۡعُدۡ.

(۲)اسمائے افعال بمنی فعل ماضی :۔
يعنې داسے اسمائے افعال چه په معنیٰ د فعل ماضي سره راځي.د دے نه پس چه کوم اسم راځي نوهغه به مرفوع وي بنا بر

فاعلیت.لکه: هَیهَاتَ په معنیٰ د بَعُدَ سره.شَتَّانَ په معنیٰ د اِفتَرَقَ سره.
سَرْعَانَ په معنیٰ د سَرُعَ سره.لکه هَیهَاتَ یَومُ العِیدِ اَی بَعُدَ یَومُ العِیدِ.

(۳) اسمائے افعال بمعنی امر حاضر:۔

یعنی داسے اسمائے افعال چه په معنیٰ د امر حاضر معروف راځی
د دے نه پس چه کوم اسم راځی نو هغه به منصوب وی
بنابر مفعولیت.لکه: رُوَیدَ په معنیٰ د اَمهِلْ سره.
بَلْهَ په معنیٰ د دَعْ سره.
حَیَّهَلْ په معنیٰ د اِیتِ سره.
عَلَیكَ په معنیٰ د اِلزَمْ سره.
دُونَكَ په معنیٰ د خُذْ سره.
هَا په معنیٰ د خُذْ سره.لکه: رُوَیدَ زَیدًا اَیْ اَمهِلْ زَیدًا.

(۴) **اسم فاعل:**۔ د دوؤ شرطونو سره دخپل فعل معروف پشانته عمل به کوی.

(۱) اسم فاعل چه په معنیٰ دَحال یا استقبال وی.

(۲) اسم فاعل چه دَشپږو خیزونو نه په یو خیز باندے اعتماد حاصل
کړے وی نو هغه شپږ خیزونه دا دی:

(۱)مبتدا (۲)موصوف (۳)موصول (۴)ذوالحال (۵)حرف نفی (۶)همزهٔ
استفهام.

(۱) **مبتدا:**۔ اسم فاعل چه په مبتدا باندے اعتماد حاصل کړے وی
نو دَخپل فعل معروف پشانته عمل به کوی.لکه: زَیدٌ قَائِمٌ اَبُوهُ الْآنَ
اوغدًا......زَیدٌ ضَارِبٌ اَبُوهُ عَمرًوا الْآنَ او غَدًا.

(۲) موصوف:۔ اسم فاعل چه په موصوف باندے اعتماد حاصل کړے وی نودَخپل فعل معروف پشان عمل به کوی.لکه: مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ اَبُوْهُ بَكرًا اَلْاٰن اوغدًا.

(۳) موصول:۔ اسم فاعل چه په موصول باندے اعتماد حاصل کړے وی نودخپل فعل معروف پشان عمل به کوی.لکه: جَآءَ نِیْ اَلْقَائِمُ اَبُوْهُ اَلْاٰن اوغَدًا اوامْسِ.

جَآءَ نِیْ الضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرًو اَلْاٰن اوغَدًا اوامْسِ.

الف لام چه په معنی دالذی وی نوپه دے کښی دزمانے قید نشته دے. یعنی که په معنیٰ دحال یااستقبال یاماضی سره وی.

(۴) ذوالحال:۔ اسم فاعل چه په ذوالحال باندے اعتماد حاصل کړے وی نودخپل فعل معروف پشان عمل به کوی.لکه: جَآءَ نِیْ زَیْدٌ رَاكِبًا غُلَامُهٗ فَرَسًا.

(۵) همزهٔ استفهام:۔ اسم فاعل چه په همزهٔ استفهام باندے اعتماد حاصل کړے وی نودخپل فعل معروف پشان عمل به کوی.لکه: اَضَارِبٌ زَیْدٌ عَمْرًوا.

(۶) حرف نفی:۔ اسم فاعل چه په حرف نفی باندے اعتماد حاصل کړے وی نودخپل فعل معروف پشان عمل به کوی.لکه: مَاقَائِمٌ زَیْدٌ. یعنی کوم عمل چه قَامَ او ضَرَبَ کوی نو هغه عمل به قَائِمٌ او ضَارِبٌ هم کوی.

(۵) اسم مفعول:۔ اسم مفعول د دوه شرطونو سره دَخپل فعل مجهول پشانته عمل به کوی.

(۱) اسم مفعول چه په معنی د حال یااستقبال وی.

(۲) اسم مفعول چه دشپږو څیزونونه په یو څیز باندے اعتماد حاصل کړے وی او هغه شپږ څیزونه دادی.

(ا) مبتدا (۲) موصوف (۳) موصول (۴) ذوالحال (۵) حرف نفی (۶) همزهٔ استفهام.

(ا) مبتدا:۔ اسم مفعول چه په مبتداباندے اعتماد حاصل کړے وی نو دخپل فعل مجهول پشانته عمل به کوی. لکه "زَیْدٌ مَضْرُوْبٌ اَبوْهُ. عَمرٌو مُعْطًی غُلَامُهٗ دِرْهَمًا. بَکرٌو مَعْلُوْمٌ ۢاِبنُهٗ فَاضِلًا. خَالِدٌ مُخْبَرٌ ۢاِبنُهٗ عمرًو فَاضِلًا". یالکه: زَیْدٌ مَضْرُوْبٌ غُلَامُهٗ اَلْاٰن اَوْغدًا.

(۲) موصوف:۔ اسم مفعول چه په موصوف باندے اعتماد حاصل کړے وی نو دخپل فعل مجهول پشانته عمل به کوی.لکه: جَآءَ نِیْ رَجُلٌ مَضْرُوْبٌ اَبُوْه.

(۳) موصول:۔ اسم مفعول چه په موصول باندے اعتماد حاصل کړے وی نو دخپل فعل مجهول پشانته عمل به کوی.لکه: جَآءَ نِیْ اَلْمَضْرُوْبُ اَبُوْهُ.

(۴) ذوالحال:۔ اسم مفعول چه په ذوالحال باندے اعتماد حاصل کړے وی نودخپل فعل مجهول پشانته عمل به کوی.لکه: جَآءَ نِیْ زَیْدٌ مَرْکُوْبًا غُلَامُهٗ فَرَسًا.

(۵) حرف نفي:۔ اسم مفعول چه په حرف نفي باندے اعتماد حاصل کړے وی نو دخپل فعل مجهول پشانته عمل به کوی.لکه: مَامَضْرُوْبٌ زَیْدٌ.

(٦)همزۂ استفهام:۔ اسم مفعول چه په همزۂ استفهام باندے اعتماد حاصل کړے وی نو دخپل فعل مجهول پشانته عمل به کوی.لکه: اَمَضْرُوْبٌ زَیْدٌ.

کوم عمل چه "ضُرِبَ، اُعْطِیَ، عُلِمَ او اُخْبِرَ" کوی نو دهغه عمل "مَضْرُوْبٌ، مُعْطًی، مَعْلُوْمٌ اومُخْبَرٌ" هم کوی.

(٦) صفت مشبه:۔ هغه اسم دے چه دلالت کوی په هغه ذات باندے چه د هغه سره معنیٰ مصدری بطور د ثبوت سره قائم وی(دَ ثبوت مطلب دا دے چې په دی کښې ماضی، حال او مستقبل معتبر نهَ وی یعنی دَ یوے زمانے پورے خاص نه وی).

صفت مشبه دَ یوشرط سره دَخپل فعل معروف پشانته عمل به کوی او هغه شرط دا دے چه د اسم موصول نه علاوه باقی دَ پنځو ځیزونونه په یو ځیز باندے اعتماد حاصل کړے وی نودَخپل فعل معروف پشانته عمل به کوی هغه پنځه ځیزونه دا دی:

(۱)مبتدا (۲)موصوف (۳)ذوالحال (۴) حرف نفی (۵) همزۂ استفهام.

(۱) مبتدا:۔ صفتِ مشبه چه په مبتداباندے اعتماد حاصل کړے وی نودخپل فعل معروف پشانته عمل به کوی.لکه: زَیْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهٗ.

(۲) موصوف:۔ صفتِ مشبه چه په موصوف باندے اعتماد

حاصل کړے وی نو دخپل فعلِ معروف پشانته عمل به کوی. لکه:
جَآءَ نِیْ رَجُلٌ حَسَنٌ وَجْهُهٗ.

(۳) ذو الحال:- صفت مشبه چه په ذوالحال باندے اعتماد حاصل کړے وی نو دخپل فعل معروف پشانته عمل به کوی.لکه: جَآءَ نِیْ زَیْدٌ حَسَنًاوَجْهَهٗ.

(۴) حرف نفی:- صفت مشبه چه په حرف نفی باندے اعتماد حاصل کړے وی نودخپل فعل معروف پشانته عمل به کوی.لکه: مَاحَسَنٌ وَجْهُهٗ.

(۵) همزهٔ استفهام:- صفت مشبه چه په همزهٔ استفهام باندے اعتماد حاصل کړے وی نودخپل فعل معروف پشانته عمل به کوی.لکه: اَحَسَنٌ وَجْهُهٗ.

کوم عمل چه حَسَنٌ کوی نو هغه عمل حَسَنٌ هم کوی.

(۷) اسم تفضیل:- هغه اسم دے چه په هغه ذات باندے دلالت کوی.چه په هغه کښی معنیٰ مصدری زیاته اوموندے شی دَبل په مقابله کښی.دَ اسم تفضیل استعمال په دریو(۳) طریقو سره دے.

(۱) په مِنْ سره لکه: زَیْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو.

(۲) په الف لام سره لکه: جَآءَ نِیْ زَیْدُنِ الْاَفْضَلُ.

(۳) یاپه اضافت سره لکه: زَیْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ.

اسم تفضیل به عمل په خپل فاعل کښی کوی چه هغه فاعل هُوَ دے او په اَفْضَلُ کښی مستتر دے.

(۸) مصدر:۔ مصدر هم دخپل فعل پشان ته عمل به کوی خو په دے شرط سره چه مفعول مطلق نه وی.لکه: اَعْجَبَنِیْ ضَرْبُ زَیْدٍ عَمْرًوا.

(۹) اسم مضاف:۔ اسم مضاف مضاف الیه لره جر ورکوی.لکه: جَآءَ نِیْ غُلَامُ زَیْدٍ.

بعض علماء وائی چه په غُلَامُ زَیْدٍ کښې لام جاره په حقیقت کښې مقدر دے چه اصل عبارت داسے دے چه غُلَامُ لِزَیْدٍ.

(۱۰) اسم تام:۔ هغه اسم دے چه په خپل موجوده حالت کښې مضاف نه وی.اوخپل تمیز لره به نصب ورکوی.داسم دتام کیدو یو څو صورتونه دی. یعنی داسم تام د مکمل کیدویو څو صورتونه دی.

(۱) بتنوین:۔ یعنی اسم تام به یا په تنوین سره مکمل کیږی نو خپل تمییز لره به نصب ورکوی لکه "مَافِی السَّمَآءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا" یابه په تقدیر دتنوین سره تام کیږی نوخپل تمییز لره به نصب ورکوی.لکه: عِنْدِیْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا، زَیْدٌ اَکْثَرُ مِنْكَ مَالًا.

یابه په نون د تثنیے سره تام کیږی نوخپل تمییز لره به نصب ورکوی، لکه:"عِنْدِیْ قَفِیْزَانِ بُرًّا".

یابه په نون دجمع سره تام کیږی نوخپل تمییز لره به نصب ورکوی، لکه:"هَلْ نُنَبِّئُکُمْ بِالْاَخْسَرِیْنَ اَعْمَالًا".

یابه مشابهه دنون د جمعے سره تمام کیږی اوخپل تمییز لره به نصب ورکوی، لکه:عِنْدِیْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا.

یا به په اضافت سره تام کیږی او خپل تمیز لره به نصب ورکوی، لکه:"عِنْدِیْ مِلْؤُهٗ عَسَلًا".

(۱۱) اسمائ کنایه ازعدد:۔ دوه الفاظ دی: (۱) کَمْ، (۲) کَذَا.

کَمْ په دوه قسم دے.(۱) کم استفهامیه (۲) کم خبریه

(۱) کَمْ استفهامیه:۔ خپل تمییز لره نصب ورکوی دغه رنگے کَذا هم خپل تمییز لره نصب ورکوی. لکه: "کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ، عِنْدِیْ کَذَادِرْهَمًا".

(۲) کَمْ خبریه:۔ خپل تمییز لره جر ورکوی. لکه: کَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُ، کَمْ دَارٍ بَنَیْتُ."

او کله کله دَ کَمْ خبریه په تمییز باندے من جاره هم داخلیږی. لکه داقول دَ الله تعالیٰ شو چه "کَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِی السَّمٰوٰتِ".

قسم دوم درعوامل معنوی:۔ دویم قسم دَ عوامل معنوی په بیان کښی دے. عامل معنوی په دوه قسمه دے.

(۱) ابتداء:۔ یعنی چه اسم دَ عوامل لفظیو نه خالی وی نو مبتدا او خبر لره به رفع ورکوی. لکه "زَیْدٌ قَائِمٌ" نو په دے کښی "زَیْدٌ" مبتدا دے او مرفوع دے دَ ابتدا د وجهے نه او "قَائِمٌ" خبر دَ مبتدا دے او مرفوع دے دَ ابتدا د د وجهے نه. دلته دوه مذهبه نور دی چه په مبتدا کښی ابتداء عامل دے او په خبر کښی مبتداء عامل دے.

بل مذهب دا دے چه مبتدا په خبر کښی او خبر په مبتدا کښی عامل دے یعنی په یوبل کښی عامل دی.

(۲) فعل مضارع:۔ چه دَ نواصبُ اوجوازمُ نه خالی وی نوفعل مضارع

لره به رفع ورکوی.لکه "یَضْرِبُ زَیْدٌ" نـودلته یَضْرِبُ مرفوع دے ځکه چه دنواصبو اودَجوازمونه خالی دے.(تمام شد عوامل نحو)

تـمام شـو عـوامـل دَنـحـو په توفیق دَ الله تعالیٰ سره اوپه امداد دَ الله تعالیٰ سره.

❁❁❁❁❁

﴿خاتمه﴾

په دے کښې درے فصله دی.

فصل اول دَتوابعو په بیان کښې دے.

فصل دوم دَمنصرف اوغیر منصرف په بیان کښې دے.

فصل سوم دَحروفِ غیر عاملو په بیان کښې دے.

فصل اول دَتوابعو په بیان کښې دے.

تابع:۔ هغه لفظ دے چه دَ اول لفظ پسے دویم لفظ وی. دَ دواړو اعراب هم یو وی او وجه دَ اعراب ئے هم یوه وی. اولنی لفظ ته متبوع او دویم لفظ ته تابع وائی او دَ تابع حکم دا دے چه دے به همیشه په اعراب کښې دَ متبوع موافق وی. بیا تابع په پنځه قسمه دے.

(۱)صفت، (۲)تاکید، (۳)بدل، (۴)عطف بحرف، (۵)عطف بیان.

(۱) صفت:۔ هغه تابع دے چه دلالت کوی په وصف دَمتبوع یا په وصف دَمتعلق دَمتبوع باندے. صفت په دوه قسمه دے.

(۱) صفت بحالهٖ (۲) صفت بحاله متعلقه.

(۱) صفت بحاله:۔ هغه صفت دے چه دلالت کوی په وصف دَمتبوع باندے.لکه: جَآءَ نِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ.

(۲) صفت بحال متعلقه:۔ هغه صفت دے چه دلالت کوی په وصف دَمتعلق دَمتبوع باندے.لکه: جَآءَ نِیْ رَجُلٌ حَسَنٌ غُلَامُهٗ یااَبُوْهُ.

صفت بحاله دَخپل موصوف سره په لسو خیزونو کښې موافقت وی.

تعریف وتنکیر، تذکیروتانیث، واحد، تثنیه، جمع، رفع، نصب، جر.

خوبیك وقت به په څلورو څیزونو کښې موافقت وي.

یعنی ددغه لسو څیزونونه به بیك وقت څلورموندے شي. لکه:

عِنْدِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ، عِنْدِیْ رَجُلَانِ عَالِمَانِ.

عندی رِجَالٌ عَالِمُوْنَ عِنْدِیْ اِمْرَأَةٌ عَالِمَةٌ.

عِنْدِیْ اِمْرَأَتَانِ عَالِمَتَانِ، عِنْدِیْ نِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ.

اوصفت بحال متعلقه دَخپل موصوف سره په پنځو څیزونو کښې

موافقت وي. تعریف وتنکیر، رفع، نصب، جر.

خوبیك وقت به په دوؤ څیزونو کښې موافقت وي .

یعنی ددغه پنځو څیزونونه به بیك وقت دوه موندے شي.لکه: جَآءَ

نِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْہ.

کله کله به دَنکرے صفت جمله خبریه واقع کیږي.

خو په دے جمله کښې به ضمیر راوړل لازمي وي خوداضمیر به راجع

وي دغه نکرے ته. لکه: جَآءَ نِیْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ.

(۲) تاکید:۔ هغه تابع دے چه دَمتبوع حال مضبوطه وي یعنی متبوع

ته چه دکوم شي نسبت شوے دے نو هغه یقیني دے. یاشاملوي نسبت دَ

فعل هر یو فرد د افرادو دَ متبوع ته. د دے د پاره چه سامع ته څه شك پاتے

نشي.تاکید په دوه قسمه دے:(۱) تاکید لفظي، (۲)تاکید معنوي.

(۱) تاکید لفظي:۔ تاکید لفظي تکرار دَ لفظ ته وائي.لکه: زَیْدٌ زَیْدٌ

قَائِمٌ. ضَرَبَ ضَرَبَ زَیْدٌ. اِنَّ اِنَّ زَیْدًاقَائِمٌ.

(۲) تاکید معنوی:۔ دَ تاکید معنوی دپاره اته(۸) الفاظ دی: نفسٌ، عَینٌ، کِلاوَ کِلتا، کُلٌّ، اَجْمعُ، اَکْتَعُ، اَبْتَعُ، اَبْصَعُ.

نَفسٌ او عَینٌ دَ واحد، تثنیے او دَ جمعے دَ تاکید دپاره راځی. لکه: جآءَ نِیْ زَیْدٌ نَفسُهٗ، جآءَ نِیْ الزَّیْدَانِ اَنْفُسُهُمَا، جآءَ نِیْ الزَّیْدُوْنَ اَنْفُسُهُم.

جآءَ نِیْ زَیْدٌ عَیْنُهٗ، جآءَ نِیْ الزَّیْدَانِ اَعْیُنُهُمَا، جآءَ نِیْ الزَّیْدُوْنَ اَعْیُنُهُم.

کلا و کلتا:۔ دَ تثنیے پورے خاص دی. او دَ تثنیے دَ تاکید دپاره راځی. لکه: جآءَ نِیْ الزَّیْدَانِ کِلاهُمَا، جآءَ تْنِیْ الْهِنْدَانِ کِلْتَاهُمَا.

کُلٌّ:۔ دَ واحد او دَ جمعے دَ تاکید دپاره راځی خو دَ کُلٌّ لفظ به نه بدلیږی. لکه: قَرءْ تُ الْکِتَابَ کُلَّه، سَجَدَ الْمَلائِکَةُ کُلُّهُم.

اَجْمَعُ، اَکْتَعُ، اَبْتَعُ، اَبْصَعُ، دَ واحد او دَ جمعے دَ تاکید د پاره راځی. خو د دے صیغے به بدلیږی. لکه: جآءَ نِیْ الْجَیْشُ اَجْمَعُ، جآءَ نِیْ الْقَوْمُ کُلُهُمْ اَجْمَعُوْنَ و اَکْتَعُوْنَ و اَبْتَعُوْنَ و اَبْصَعُوْنَ.

بدانکه:۔ اَکْتَعُ، اَبْتَعُ، اَبْصَعُ، دَ اَجْمَعُ تابع دی بغیر دَ اجْمع نه نه راځی. او دَ اَجْمَعُ نه مخکښی هم نه راځی.

(۳) بدل:۔ دَ بدل لغوی معنیٰ عوض. او په اصطلاح کښی بدل هغه تابع دے. چه په نسبت کښی په خپله مقصود وی او مبتوع صرف دَ تعارف او دَ وضاحت دپاره ذکر کولے شی. لکه: "جآءَ نِیْ اَخُوْكَ زَیْدٌ". په دے کښی "اَخُوْكَ" مبدل منه دے او "زَیْدٌ" بدل دے د بدل او مبدل منه اعراب یو وی. بیا بدل څلور قسمه دے.

(۱) بدل الکل، (۲) بدل البعض، (۳) بدل الاشتمال، (۴) بدل الغلط.

(۱) بدل الکل:۔ هغه بدل دے چه مدلول دده مدلول د مبدل منه وی. لکه: جَآءَنِیْ زَیْدٌ اَخُوْكَ، وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا اِلٰی ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صَالِحًا، سَیِّدُنَا مُحَمَّدٌ ﷺ رَسُوْلُ اللهِ.

(۲) بدل البعض:۔ هغه بدل دے چه مدلول د دهٔ جز د مبدل منه وی. لکه: ضُرِبَ زَیْدٌ رَأْسُهٗ، اَکَلْتُ الرَّغِیفَ ثُلُثَه، وَ عَلَی النَّاسِ حِجُّ الْبَیْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَیْهِ سَبِیْلًا، په دے کښې "اَلنَّاس" مبدل منه دے او "مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَیْهِ سَبِیْلًا" بدل دے.

(۳) بدل الاشتمال:۔ هغه بدل دے چه مدلول دده متعلق د مبدل منه وی. لکه: سُلِبَ زَیْدٌ ثَوْبُهٗ.

(۴) بدل الغلط:۔ هغه بدل دے چه د غلط لفظ نه پس په بل لفظ سره ذکر کړے شی. لکه: مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ. تَصَدَّقْتُ بدرهمٍ دِیْنَارٍ یا اِشْتَرَیْتُ الفرسَ بل حمارًا.

(۴) عطف بحرف یامعطوف بحرف:۔ هغه تابع دے. چه د حرف عطف نه پس واقع وی. او د خپل متبوع سره په نسبت کښې مقصود وی. دے ته عطف نسق هم وائی. د نسق معنیٰ ترتیب ورکول نو دے هم معطوف او معطوف علیه لره ترتیب ورکوی. معطوف علیه مخکښې وی او معطوف روستو وی. لکه: جَآءَنِیْ زَیْدٌ وَعمروٌ.

په دے کښې زید معطوف علیه دے، واؤ حرف عطف دے، او عمرو معطوف دے.

(۵) **عطف بیان:۔** هغه تابع دے چه داغیر صفت وی .صرف دَ خپل متبوع بیان او وضاحت کوی.که چرے علم زیات مشهور وی نو کنیت به مخکښی راوړے.لکه: اَقْسَمَ بِاللّٰهِ اَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ.

او که چرے کنیت زیات مشهور وی نو علم به مخکښی راوړے.لکه: جآءَنِیْ زَیْدٌ اَبُوْ عمرٍو.

فصل دوم د منصرف او دَ غیر منصرف په بیان کښی دے

(۱) **منصرف:۔** هغه اسم دے چه دَ اسبابو دَ منع صرف نه په کښی یو سبب هم نه وی.

(۲) **غیر منصرف:۔** هغه اسم دے چه دَ اسبابو دَ منع صرف نه په کښی دوه سببه یا یو سبب چه قائم مقام دَ دوؤ سببو دے او موندلے شی.

اسباب دَ منع صرف نهه دی:(۱) عدل، (۲) وصف، (۳) تانیت، (۴) معرفه، (۵) عجمه، (۶) جمع، (۷) ترکیب، (۸) وزن فعل، (۹)الف نون زائدتان.لکه:

عُمَرُ چه په دے کښی عدل تقدیری او عَلَم دے.

په ثُلٰثُ او مَثْلَثُ کښی عدل تحقیقی او وصف دے.

په طلحةُ کښی تا نیث لفظی او عَلَم دے.

او په زینبُ کښی نانیث معنوی او علم دے.

او په حبلیٰ کښی الف مقصوره دے او په حمر آء کښی الف ممدوده دے.

چه دا یو سبب قائم مقام دَ دوؤ سببو دے.

په ابراهیم کښی عجمه او عَلَم دے.

مساجدُ او مَصَابِیْحُ جمع منتهی الجموع دی. چه دا قائم مقام د دوؤ سببو دی.

او په بَعْلَبَكُ کښې ترکیب او علم دے.

او په احمد کښې وزن فعل او علم دے.

او په سُکران کښې الف نون زائد تان او وصف دے.

اوپه عثمان کښې الف نون زائدتان او علم دے.

فصل سوم دَ حروف غیر عاملو په بیان کښې دے۔

حروف په دوه قسمه دي: (۱) حروف مباني (۲) حروف معاني.

(۱) حروف مباني:۔ هغه حروف دی چه دَ هغے نه کلمات مرتب کیږی او څه خاص معنیٰ ئے نه وی.لکه: ا،ب، ت، ث وغیره.

(۲) حروف معاني:۔ هغه حروف دی چه دَ هغے څه معنیٰ وی. لکه: مِنُ، اِلیٰ، عَلیٰ، وغیره. بیا حروف معانی په دوه قسمه دی.

(۱)حروف عامله (۲)حروف غیر عامله.

(۱) حروف عامله:۔ د دے بحث مخکښې تیر شو.

(۲) حروف غیر عامله:۔ هغه حروف دی چه په لفظ کښې عمل نه کوی.حروف غیر عامله په شپاړس قسمه دی.

(۱)حروف تنبیه (۲)حروف ایجاب (۳)حروف تفسیر (۴)حروف مصدریه (۵)حروف تحضیض (۶)حرف توقع (۷)حروف استفهام (۸)حرف ردع (۹)تنوین (۱۰)نون تاکید (۱۱)حروف زیادت (۱۲)حروف شرط (۱۳)لولا (۱۴)لام مفتوح (۱۵)ما (۱۶)حروف عطف.

(۱) حروفِ تنبیه:۔ هغه حروف دی چه د دے په ذریعه باندے

مخاطب بيدار ولے شي. حروف تنبيه درے دی: (۱) الا (۲) اما (۳) ها.
لکه اَلَا اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ.... الخ.

(۲)حروفِ ايجاب:۔ هغه حروف دی چه دَ يوسوال په جواب کښي واقع کيږی. او دا شپږ حروف دی. (۱) نعم (۲) بلیٰ (۳) اَجَل (۴) اِیْ (۵) جَیْر (٦) اِنَّ. لکه: اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰی.

(۳) حروفِ تفسير:۔ هغه حروف دی چه دَ ما قبل جملے دَ وضاحت د پاره راځی. او دا دوه حروف دی. (۱) اَیْ، (۲) اَنْ. لکه: نَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰاِبْرٰهِيْمُ.

(۴) حروفِ مصدريه:۔ هغه حروف دی چه په فعل باندے داخل شی نو فعل په معنیٰ دَ مصدر سره گرځوی. او دا درے حروف دی: (۱) مَا (۲) اَنْ (۳) اَنَّ. لکه: ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ اَیْ بِرُحْبِهَا.

(۵) حروفِ تحضيض:۔ هغه حروف دی چه د دے په ذريعه باندے مخاطب په يو کار باندے اماده کول مقصود وی. او دا څلور حروف دی. (۱) اَلَّا (۲) هَلَّا (۳) لَوْلَا (۴) لَوْمَا. لکه: اَلَّا تَحْفَظُ الدَّرْسَ.

(٦)حرفِ توقع:۔ قد دے، قد چه په ماضی باندے داخل شی نو دَ تحقيق د پاره راځی او دَ ماضی معنیٰ حال ته نزدے کوی. لکه "قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ". او په مضارع باندے چه داخل شی نود پاره دَ تقليل راځی. لکه "قَدْ يَجُوْدُ الْبَخِيْلُ". او کله کله د مضارع سره د تحقيق معنیٰ هم ورکوی. لکه "قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ".

(۷) حروفِ استفهام:۔ هغه حروف دی چه د دے په ذريعه باندے

دَ چا نه دَ يو ے خبرے تپوس اوکړے او دا درے حروف دی: (۱)ما (۲)همزه (۳)هل. لکه: هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ؟. اَزَيْدٌ قَائِمٌ؟

(۸) حرف ردع:- دَ ردع لغوی معنیٰ رټل. او په اصطلاح کښې حرف ردع هغه حرف دے چه د دے په ذریعه باندے کلام کونکے دَ يو کلام نه منع کول مقصود وی.لکه: فَلَانٌ يُبْغِضُكَ په جواب کښې كَلَّا راځی. او کله کله په معنیٰ دَ تحقیق سره هم راځی لکه كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ.

(۹) تنوین:- نون ساکن ته وائی او دَ آخری حرف حرکت تابع وی. بیا تنوین په پنځه قسمه دے: (۱)تنوین تمکن (۲)تنوین تنکیر (۳)تنوین عوض (۴)تنوین مقابله (۵)تنوین ترنم.

(۱) تنوین تمکن:- هغه تنوین دے چه دا دلالت کوی په دے خبره باندے چه دا اسم معرب او منصرف دے .لکه: زَيْدٌ.

(۲) تنوین تنکیر:- هغه تنوین دے چه دلالت کوی په دے خبره باندے چه دا اسم نکره دے یعنی دے فرق راولی په مابین دَ معرفے اونکرے کښې لکه" صَهٍ اَیْ اُسْكُتْ سُكُوْتًا مَّا فِيْ وَقْتٍ مَّا "او که چرے "صَه" بغیر دَ تنوین نه راغلے وی .نو بیا به ئے معنیٰ داسے شی چه "اُسْكُتِ السُّكُوْتَ الْاٰنَ".

(۳) تنوین عوض:- هغه تنوین دے چه دَ مضاف الیه په عوض کښې راغلے وی. لکه "يَوْمَئِذٍ". چه دا په اصل کښې "يَوْمَ اِذْ كَانَ كَذَا" وو. نو "كَانَ كَذَا" مضاف الیه مو حذف کړو او د دے په عوض کښې مو "اِذْ" له تنوین ورکړونو "يَوْمَئِذٍ" شو.

(۴) **تنوین مقابله:**۔ هغه تنوین دے چه دَ جمعے مؤنث سالم په اخر کښې راغلے وی. دَ هغه نون په مقابله کښې چه کوم دَ جمعے مذکر سالم په اخر کښې راغلے دے. لکه مُسْلِمَاتٌ.

(۵) **تنوینِ ترنم:**۔ هغه تنوین دے چه دَ خوش آواز ے پیدا کولو او دَ وزن برقرار ساتلو د پاره دَ شعرونو په اخر کښې لوستلے شی. لکه: اَقِلِّی اللَّوْمَ عَاذِلَ وِالْعِتَابَنْ، وَقُوْلِی اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ.

تنوین ترنم په اسم ،فعل او حرف دریواړو کښې راځی. او هغه چه څلور اولنی دی نو هغه د اسم پورے خاص دی.

(۱۰) **نونِ تاکید:**۔ دوه نونونه دی. نون ثقیله او نون خفیفه. او دا دَ فعل مضارع په اخر کښې راځی. لکه: اِضْرِبَنَّ، اِضْرِبَن، لَیَضْرِبَنَّ، لَیَضْرِبَنْ.

(۱۱) **حروفِ زیادت:**۔ هغه حروف دی چه دَ کلام نه ئے حذف کړے نو دَ عبارت په معنیٰ کښې څه فرق نه راځی. البته په حسن دَ کلام کښې فرق راځی. او دا اَته(۸) حروف دی: اِنْ، مَا، اَنْ، لَا، مِنْ، کَاف، بَا، لَامْ.

په دے کښې دا اخری څلور حروف جاره دی خو دلته دَ حروف زیادت دَ بیان دَ تکمیل د پاره راوړے شوی دی لکه "کَفٰی بِاللّٰهِ شَهِیْدًا.

(۱۲) **حروفِ شرط:**۔ دوه حروف دی: اَمَّا او لَو.

اَمَّا:۔ هغه حرف شرط دے چه دَ ما قبل جملے دَ تفسیر د پاره راځی. او دے په جواب باندے دَ فا د راوړل لازمی دی. لکه: دا قول د الله تعالیٰ شو. فَمِنْهُمْ شَقِیٌّ وَّسَعِیْدٌ فَاَمَّاالَّذِیْنَ شَقُوْ افَفِی النَّارِ وَاَمَّاالَّذِیْنَ سُعِدُوْا فَفِی الْجَنَّةِ.

لو:۔ د پاره دِ اِنتِفاءِ دَ ثانی راځی په دے سبب سره چه اولنے منتفی دے. لکه: لَوْ كَانَ فِيهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدتَا.

(۱۳) لَولا:۔ د پاره دَ انتفاء دَ ثانی راځی په دے سبب سره چه اوّلنے موجود دے. لکه: لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ.

(۱۴) لام مفتوحه:۔ دَ تاکید دپاره راځی. لکه: لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو.

(۱۵) ما:۔ په معنیٰ دَما دام سره راځی. لکه: اَقُوْمُ مَاجَلَسَ الْاَمِيْرُ.

(۱۶) حروفِ عطف:۔ عطف معنیٰ مائل کول. او حروف عاطفو ته حروف عاطفه ځکه وائی چه دا معطوف په اعراب او په نورو احکامو کښی معطوف علیه طرف ته مائله کوی. حروف عطف لس(۱۰) دی.

واو، فَا، ثُمَّ، حَتّٰی، اِمَّا، اَوْ، اَمْ، لَا، بَلْ، لٰكِنْ.

❁❁❁❁❁

﴿بحث مستثنٰی﴾

مستثنٰی:۔ هغه لفظ دے چه دَ اِلّا او د هغه اخوات نه پس واقع وی. د دے د پاره چه ظاهر شی چه دَ کوم یو څیز نسبت مستثنٰی منه ته شوے دے نو د هغه څیز نسبت مستثنٰی ته نه دے شوے. اخوات دَ مستثنٰی دا دی: غیر، سِوَای، سِوَآءَ، حَاشَا، خَلَا، عَدَا، مَاخَلَا، مَاعَدَا، لَیْسَ، لَایَکُوْنُ.

مستثنٰی په دوه قسمه ده: (۱) مستثنٰی متصل، (۲) مستثنٰی منقطع.

(۱) مستثنٰی متصل:۔ هغه مستثنٰی ده چه دَ اِلّا یا دَ هغه دَ اَخْوَاتو په ذریعه باندے دَ مستثنٰی منه نه ویستلے شوے وی. په دے سبب سره چه دا په مستثنٰی منه کښی داخل وی. لکه: جَآءَنِیُ الْقَوْمُ اِلَّازَیْدًا.

(۲) مستثنٰی منقطع:۔ هغه مستثنٰی ده چه دَ اِلّا یا دَ هغه دَ اَخْوَاتو په ذریعه باندے دَ مستثنٰی منه نه نهٔ وی ویستلے شوے په دے سبب سره چه دا په مستثنٰی منه کښی داخل نه وی. لکه: جَآءَنِیُ الْقَوْمُ اِلَّاحِمَارًا.

اعراب دَ مستثنٰی په څلور قسمه دے.

اوّل:۔ مستثنٰی دَ اِلّا نه پس په کلام موجب کښی واقع وی نو دا مستثنٰی به همیشه منصوب وی. لکه: جَآءَنِیُ الْقَوْمُ اِلَّازَیْدًا.

کلام په دوه قسمه دے: (۱) کلام موجب (۲) کلام غیر موجب.

(۱) کلام موجب:۔ هغه کلام دے چه په هغے کښی نفی، نهی او استفهام نهٔ وی.

(۲) کلام غیر موجب:- هغه کلام دے چه په هغے کښې نفی، نهی او استفهام وی،

مستثنٰی دَ اِلّا نه پس په کلام غیر موجب کښې واقع وی او مستثنٰی دَ مستثنٰی منه نه مخکښې راشي نو دا مستثنٰی به منصوب وی. لکه: مَا جَآءَ نِیْ اِلَّا زَیْدًا اَحَدٌ.

مستثنٰی منقطع به همیشه منصوب وی. لکه: جَآءَ نِیُ الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا.

کچرې مستثنٰی دَ مَاخَلَا، مَاعَدَا، لَیْسَ او لَایَکُوْنُ نه پس واقع شی نو دا مستثنٰی به همیشه منصوب وی. لکه: جَآءَ نِیُ الْقَوْمُ مَاخَلَا زَیْدًا، جَآءَ نِیُ الْقَوْمُ مَاعَدَا زَیْدًا، جَآءَ نِیُ الْقَوْمُ لَیْسَ زَیْدًا، جَآءَ نِیُ الْقَوْمُ لَایَکُوْنُ زَیْدًا.

که چرے مستثنٰی دَ خَلَا او عَدَا نه پس واقع وی نو په دے کښې اختلاف دے. بعض علماء وائی چه منصوب به وی او بعض علماء وائی چه مجرور به وی خولیکن دَ اکثرو علماء په نزد باندے به منصوب وی. لکه: جَآءَ نِیُ الْقَوْمُ خَلَا زَیْدًا، جَآءَ نِیُ الْقَوْمُ عَدَا زَیْدًا.

دوم:- مستثنٰی دَ اِلّا نه پس په کلام غیر موجب کښې واقع وی. او مستثنٰی منه مذکور وی. نو په مستثنٰی باندے دوه قسمه اعراب لوستل جائز دی.

(۱) په مستثنٰی باندے نصب وئیل جائز دی دَ استثناء دَ وجهے نه. لکه: مَا جَآءَ نِیْ اَحَدٌ اِلَّا زَیْدًا.

(۲) په مستثنٰی باندے هغه اعراب وئیل جائز دی چه کوم اعراب دَ مستثنٰی دَ ما قبل دے نو په دے وخت کښې به دا مستثنٰی بدل وی دَ

ماقبل نه. لکه: جَآءَ نِی اَحَدٌ اِلَّا زَیْدٌ.

سوم:۔ مستثنٰی مفرّغ یعنی چه مستثنٰی منه مذکور نه وی او مستثنٰی دَ اِلَّا نه پس په کلام غیر موجب کښی واقع وی، نو په دے صورت کښی به دَ مستثنٰی اعراب دَعامل مطابق وی.لکه: مَاجَآءَنِی اِلَّا زَیْدٌ، مَارَاَیْتُ اِلَّا زَیْدًا، مَا مَرَرْتُ اِلَّا بِزَیْدٍ.

چهارم:۔ که چرے مستثنٰی دَ لفظ غیر سوٰی او سواء نه پس واقع وی نو دا به همیشه مجرور وی. لکه: جَآءَنِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ، جَآءَنِی الْقَوْمُ سِوٰی زَیْدٍ، جَآءَنِی الْقَوْمُ سِوَآءَ زَیْدٍ.

که چرے مستثنٰی دَ حَاشَا نه پس واقع وی نو په دے کښی اختلاف دے. بعض علماء وائی چه مجرور به وی او بعض علماء وائی چه منصوب به وی خو لیکن دَ اکثرو علماؤ په نزد باندے به مجرور وی.

لکه: جَآءَنِی الْقَوْمُ حَاشَا زَیْدٍ.

دَ لفظ دَ غیر اعراب:۔ دَ اِلَّا نه پس چه دَ مستثنٰی کوم اعراب دے هغه به دَ لفظ دَ غیر هم اعراب وی. په ټولو صورتونو کښی.لکه:

جَآءَنِی الْقَوْمُ غَیْرَ زَیْدٍ، جَآءَنِی الْقَوْمُ غَیْرَ حِمَارٍ، مَاجَآءَنِی غَیْرَ زَیْدٍ نِ الْقَوْمُ.

مَاجَآءَنِی اَحَدٌ غَیْرَ زَیْدٍ وَّ غَیْرُ زَیْدٍ، مَاجَآءَنِی غَیْرُ زَیْدٍ، مَارَاَیْتُ غَیْرَ زَیْدٍ، مَا مَرَرْتُ بِغَیْرِ زَیْدٍ.

لفظ دَ غیر دَ صفت دپاره وضع کړے شوے دے خو کله کله دَ استثناء دَ پاره هم راځی.

دَ صفت مثال، لکه: جَآءَنِی رَجُلٌ غَیْرُ زَیْدٍ.

داستثناء، مثال لکه: جَآءَنِی الْقَوْمُ غَیرَ زَیْدٍ.

لفظ دَ اِلَّا د استثناء د پاره وضع کړے شوے دے خو کله کله دَ صفت د پاره هم استعمالیږی.لکه: ''لَوْکَانَ فِیْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا'' یعنی ''غَیْرُ اللّٰهِ'' او هم دغه رنګے ''لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ'' دے.

اختتام

12مارچ 2011بروز اتوار بوقت عصر 5:51بجے

﴿تاثرات﴾

شیخ الحدیث والتفسیر حضرت مولانا پیر محمد چشتی رحمۃ اللہ تعالیٰ علیہ

بانی دارالعلوم جامعہ غوثیہ معینیہ پشاور

اللہ تعالیٰ کی توفیق سے تراثِ اسلامی اور بزرگانِ دین کے علمی ذخائر سے دنیا کو روشناس کرانے کے لیے مولانا عبدالرحمٰن نظامی اچھا کردار انجام دے رہے ہیں۔ بہت مختصر عرصہ میں ان کا قائم کردہ مکتبہ جو "المکتبۃ النظامیۃ" کے نام سے ہے، نے کافی پیش رفت کی ہے۔ ہماری دُعا ہے کہ رب کریم اس مکتبہ کو اسلامی ذخائر کی روش زیادہ سے زیادہ پھیلانے کی توفیق دے۔ آمین

العبدالضعیف

پیر محمد چشتی پشاور۔ 12 اپریل 2015ء

❀❀❀❀❀

﴿ایک اہم پیغام علماء، مشائخ اور عوام اہل سنت کے نام﴾

جیسے کہ آپ جانتے ہیں کہ اہل سنت کو ہر شعبۂ زندگی میں محنتی، کارکن اور مخلص افراد کی اشد ضرورت ہے جو بدقسمتی سے کمیاب ہیں اور شاید ایسے افراد کی قلت کے اسباب میں سے ایک سبب یہ بھی ہو کہ اہل سنت کا عمومی مزاج ہے کہ محنتی اور مخلص اشخاص کی نہ قدر کی جائے اور نہ ان کو صحیح مقام دیا جائے اور خود پسندی، انانیت اور خودغرضی کو پروان چڑھایا جائے۔ اور شاید یہی وجہ ہے کہ ہر سطح پر اہل سنت کی اجتماعت ختم ہوگئی ہے، بہر حال یہ ایک المیہ ہے۔ لیکن فی الحال تصود یہ ہے کہ حضرت مولانا عبدالرحمان نظامی صاحب نے علماء اہل سنت کی تصنیفات کی طباعت اور نشر و اشاعت کے لیے "المکتبۃ النظامیہ" پشاور میں قائم کیا ہے۔ اُنہوں نے ایک اہم شعبہ اور اشد ضرورت کی طرف توجہ دی ہے کہ تصنیف، تالیف اور طباعت کا شعبہ بہت اہمیت رکھتا ہے کہ کتاب ایک خاموش مبلغ ہے اور قلم احد اللسانین ہے۔ لہٰذا میں ان کی کامیابی کے لیے دُعا گو ہوں اور اپنے احباب سے درخواست گزار بھی ہوں کہ حضرت علامہ مولانا عبدالرحمان نظامی صاحب کی خدمات کی قدر کرتے ہوئے ان کے ساتھ تعاون فرماتے رہیں۔ اللہ تعالیٰ کی توفیق شاملِ حال رہے۔ (آمین)

کاتب الحروف، خاک پائے علماء وطلباء

ابوالفضل محمد فضل سبحان القادری

خادم جامعہ قادریہ مردان

19-11-2015

CS CamScanner

عظیم علمی وروحانی گھرانے کے چشم وچراغ قائد اہل سنت

پیر طریقت حضرت العلامہ ڈاکٹر محمد نور الحق قادری

(سابق وفاقی وزیر چیئرمین قومی سیرت کونسل پاکستان)

تاثرات

موجودہ پُرفتن دور میں ہر طرف لادینیت، بدعقیدگی اور بے حسی اپنی انتہا کو پہنچ چکی ہے اُمتِ مسلمہ مجموعی طور پر احساس ذمہ داری کا جذبہ کھو چکی ہے۔ نوجوان نسل اسلامی تعلیمات پر عمل پیرا ہونے کے بجائے معاشرے کے لیے ناسور بنتے جا رہے ہیں۔ جہالت، بے علمی اور بد عملی کے سیلاب کو روکنے اور پھر سے اسلام کی اصل تعلیمات سے اہل اسلام کو روشناس کرنے کے لیے اہل علم و دانش پر بہت بڑی ذمہ داریاں عائد ہوتی ہیں۔

قرآن وسنت کی صحیح تعبیرات وتشریحات، دین کی اصل روح اور بزرگانِ دین کے علمی ذخائر اور فکری تعلیمات کو عام کرنے کی اشد ضرورت ہے۔ مخلص فرض شناس نوجوان مولانا عبدالرحمان نظامی "المکتبۃ النظامیۃ" کے نام سے جو کام سرانجام دے رہے ہیں قابلِ صد آفرین ہے۔

عوام کی فکری اور اعتقادی اصلاح کے لیے مستند بنیادی کتب کی تصنیف اور پشتو زبان میں ترجمہ کرانے کے لیے ان کا ادارہ "نظام التالیفات والتراجم" قائم کرنا احسن اقدام ہے۔ یہ خیبر پختونخوا میں اپنی نوعیت کی عظیم علمی خدمت ہے۔ میں باصلاحیت علماء، مشائخ اور تمام عاشقانِ رسول ﷺ سے مخلصانہ اپیل کرتا ہوں کہ اس اشاعتی خیر وفلاح کے کام میں بھرپور حصہ لیں۔

ربِّ کریم سے دست بدعا ہوں کہ اپنے پیارے حبیب ﷺ کے طفیل "المکتبۃ النظامیۃ" کو مزید ترقی عطا فرمائے۔ آمین۔

دعا گو ودعا جو

ڈاکٹر محمد نور الحق قادری





المکتبۃ النظامیہ
مسجد حضرت ابوایوب انصاری گھنٹہ گھر پشاور
0300-5893316
0335-8317496

(١٠) چه موصوف وی لکه: جَآءَ رَجُلٌ عَالِمٌ.

(١١) چه تائے متحرکه ئے په آخر کښې وی لکه: ضَارِبَةٌ.

﴿علامات دَ فعل آته (٨) دی﴾

(١) چه قَد ئے په اول کښې وی، لکه: قَدْضَرَبَ.

(٢) سین ئے په اول کښې وی، لکه: سَيَقُوْلُ، سَيَضْرِبُ.

(٣) سوف ئے په اول کښې وی، لکه: سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ.

(۴) حرف جزم ئے په اول کښې وی لکه: لَمْ يَضْرِبُ.

(۵) ضمیر مرفوع متصل ئے په آخر کښې وی، لکه: ضَرَبْتُ.

(٦) تائے ساکنه ئے په آخر کښې وی، لکه: ضَرَبَتْ.

(٧) چه امر وی لکه: اِضْرِبُ.

(٨) چه نهی وی لکه: لاتَضْرِبُ.

﴿علامات دَ حرف﴾

چه هیڅ یو علامت دَ علاماتو دَ اسم او دَ فعل نه په کښې نه وی. نو هغه به دَ حرف علامت وی.

فصل:۔ کلمات دَ عربو په دوه قسمه دی. (١) معرب (٢) مبنی.

معرب:۔ هغه کلمه ده چه آخر د دے په اختلاف دَ عواملو سره مختلف کیږی، لکه: جَآءَنِی زَيْدٌ، رَأَيْتُ زَيْدًا، مَرَرْتُ بِزَيْدٍ.

په دے کښې جَآءَ، رَأَيْتُ، او بـا حرف جاره عوامل دی. زَيْدٌ پکښې معرب دے. ضمه، فتحه او کسره پکښې اعراب دے. او دال پکښې محل دَ اعراب دے.